پولسمه گڼه

بانی، باچا خان

# پښتون

رجسټرډ نمبر پي ۲۹۲

څې خازې شنې مې په قبروی ولاړې
که غلام مریم راځئ توکی پرې لاړی
یا به دا بې ننګه ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو ګوځې ویجاړې
(خټک)

چلوونکے * عبدالولی خان

1520



# فهرس


| مضمون | لیکوال | صفي نمبر |
|---|---|---|
| (۱) الادب: | | |
| د باچا خان خطاب | | ۳ |
| د ولی خان بیانیه | | ۵ |
| د ترقي پسند قوتونو او پښتنو خلاف سازش | م ش | ۱۰ |
| زړه سوي | بېباک | ۱۳ |
| فلسطین د تاریخ په رڼا کښې | مرتضیٰ شاهین | ۱۹ |
| د غشتو مجرمانو ډائرۍ | یو قیدی | ۲۶ |
| خبره او خبرې | سقراط | ۲۸ |
| د گل گذار | خطرنه | ۳۰ |


انور علی
کتاب کا نام ____________
سیریل نمبر ____________
فون نمبر 0335-3199661

1490

د خان عبدالولي خان د پارټۍ د اصولو سره اختلاف لرونکو ته په ډیره نرمه او مدبرانه طریقې سره انتباه ورکړیده. ځکه چې په دغه طریقه به هغه فرد یا افراد په خاموشۍ سره د پارټۍ نه بهر شي۔ اوکه دغه شان ئې نه شي نو بیا به پارټي مجبوره شي۔ چې د پارټۍ د ډسپلن خلاف کوونکي د پارټۍ نه د پارټۍ د دمنافع په خاطر خارج کړے شي۔

**د اباسین آرټ کونسل پښتنو سره کرکې:-** د پښتو ادیبانو شاعرانو د اباسین آرټ آرټ کونسل د نوو انتخاباتو سخته غندنه کړیده۔ ځکه چې په دغه انتخاب کښې د پښتانه د سره نظرانداز کړے شویدی۔ حالانکه دغه تنظیم د پاکستان د هغې علاقې سره تعلق ساتي۔ چې کومه خالصه د پښتنو ده۔ او د پښتو ژبې نه علاوه نورې ژبې په کښې هم د اقلیت حیثیت لري۔ ډیره غالبه ده۔ چې آباسین آرټ کونسل د منتظمینو غرض صوبائي تعصب ته هوا ورکول وي۔ کني نوره هیڅ وجه په نظر نه راځي۔ بایدچې دغه موجوده تنظیم ختم کړیشي۔ او له سره انتخاب وکړے شي۔ چې اباسین آرټ کونسل په ریښتیني ډول د آباسین د سیمې نمائنده وګنلای شي۔

**د پښتون مجلې په اشاعت کښې بې قاعدګي:-** د نومبر په آخري او د دسمبر په رومبۍ هفته کښې د پښتون مجلې په اشاعت کښې بې قاعدګي راغلې ده۔ اوهغه صرف پریس او د ځنو نورو ټني خرابو په وجه راپیدا شوے دے۔ زمونږ کوشش دے۔ چې د پښتون اشاعت ډیر زر خپل معمول ته راولو۔

**د پښتون لوستونکو نه خواست:-** د پښتون مجلې اداره غواړي چې د باچا خان کلیزې ته د باچاخان په حقله پښتنو ته د خپل توفیق مطابق یو نمبر مخصوص پیش کړي۔ چونکه د دغه نمبر صفحات به د پښتون د معمول نه زیات وي۔ په دغه لحاظ زمونږ د دسمبر د موجوده شمیرینه د جنورۍ د رومبۍ شمیرې پورې د پښتون صفې خلاو دیوش چاپ کولي شي۔ هیله ده چې د پښتون لوستونکي به د پښتون ادارې سره خپل ملاتړ مضبوط وساتي۔

انور علی
کتاب کا نام ______
سیرل نمبر ______
فون نمبر 0335-3199661

انور علي
کتاب کا نام
سیریل نمبر
فون نمبر 0335-3199661
1491

# دَ باچا خان خطاب

وروڼو! تاسو ته به دا خبره معلومه وي چې دا مونږ چې دَ مختلفو علاقو پښتانهٔ دلته راجمع شوي يو. دا دَ څه غرض او څه مطلب دپاره راجمع شوي يو. او دَ څه مقصد دپاره مونږ تاسو ته تکليف درکړے دے. او تاسو چې په دې کيمپ کښې مونږ را يوځاى کړي يئ. داولې دد دپاره نهٔ دا ضروري گڼم چې تاسو په دې حقيقت باندې خبردار کړم. او تاسو دې موقعې نه فائدې اوچتے کړئ. دا درئ دا کيمپ مونږ دَ دې عرض دپاره لگولے دے چې په دې کيمپ کښې مونږ دَ خپلې اصلاح او کمزورو لرې کولو کوشش وکړو. او کومې ذمه دارۍ دپاره چې مونږ ملا تړلې ده. دَ هغې په حقيقت ځان خبردار کړو. اول زهٔ مناسب گڼم چې تاسو په دې خبرې پوهه کړم. چې زمونږ دا دَ خدائى خدمتگارۍ وررور ولى څنګه جوړه شوه؟ او کله جوړه شوه؟ هسې خو دې تحريک بنياد په اکتوبر ۱۹۲۹ء کښې ايښودلے شوے وو. مګر څهٔ وخت چې مونږ په دسمبر ۲۹ء کښې دَ کانګريس کالېزې جلسې دَ لاهور ته لاړو نو هلته مونږ دا اوليدل چې بېشماره ځلمى په خاص تنظيم کښې راغلى وو. او دَ قوم دَ خدمت دپاره ئې ملا تړلې ده. يوازې ځلمى نه بلکې ډېرې زنانه دَ عمل ميدان ته راوتلې دے. نو مونږ دَ سرحد پښتانهٔ څو لک چې دَ غې جلسې ته تلى وو. دَ دې نه ډېر زيات متاثر شو. او مونږ محسوسه کړه چې دَ نورو قومونو نارينه خو پرېږده چې زنانه ئې هم دَ قوم خدمت ته ملا وتړله منظمې شوې. مګر پښتانهٔ يو چې لا هغسې لاس په پښه ناست يو. تقدير ته موځان سپارلے دے. نو ولې دې مونږ هم دَ خپل قوم تنظيم ونکړو؟ آخر مونږ هم هلته يوځاى شو په دې خبرو مو بحث وکړو. او فيصله مو وکړه چې مونږ له دَ خدائى خدمتگارۍ تحريک ته دَ ترقۍ دپاره ملا تړل پکار دى. چې دَ هغې نه خپل ملک او قوم ته فائده ورسوؤ. لنډه دا چې څهٔ وخت مونږ واپس شو نو دَ خدائى خدمتگارۍ دوررورولۍ خورولو کوشش موشروع کړو چې په بره



علاقه بره ضلع کښې مو پښتانهٔ ځلمى رابيدار کړل او پوهه مو کړل چې آخر مونږ هم يو قوم يو، په مونږ کښې هم ځلمى شته، مونږ ته هم دَ زمانې دَ تخلقو سره اوږه په اوږه تلل پکار دى.

دَ هغه وخت نه زمونږ دَ غزيزدارۍ او ورورولۍ دا تحريک شروع شوے دے. او دَ دې تحريک نه چې په ملک کښې څه بيدارى پيدا شوې ده او دَ هغې نه څه لږه گټه په لاس راغلې ده، هغه ستاسو نه پټه نده. زما دا کلکه عقيده او ايمان دے. چې بغير دَ پښتونى خدائى خدمتگارۍ نه دَ پښتون اصلاح په بله هيڅ طريقه کيدے نشى. صرف دا يو تحريک دے چې دَ پښتنو دَ سياسى، اخلاقى، روحانى ترقۍ سبب کيدے شى. او س زهٔ تاسو په دې خبره پوهولے غواړم چې زمونږ نوم خدمتگار دے او مونږ ځان ته دَ خدائے پاک خدمتګار وايو. څهٔ وخت چې مونږ په دې کښې داخلېږو دَ دې سره وعده کوو، چې مونږ دَ خدائے

خدمت کوو. بلکې تاسو به د دې خبردار شئ چې خدائے پاك ته د خدمت هیڅ ضرورت نشته. د هغه خدمت د هغه د مخلوق خدمت دے نو هر څوك چې ځان ته خدائي خدمتگار وائي. هغه به ځان د خدائے د مخلوق خدمتگار گڼي. په دې خبره هم زهٔ تاسو پو پول غوارم. چې یوازے پښتون یا مسلمان د خدائي مخلوق نه دے، بلکې په دنیا کښې چې تاسو داڅومره قوتونه وینئ دا ټول د خدائے پیدا او ښت او مخلوق دے. او د دې ټولو خدمت چې څومره زمونږ نه کیدے شی په مونږ فرض او لازم دے.

زه ستاسو په خدمت کښې عرض کوم چې تاسو خپلې ذمه وارۍ او پیژنئ او دهغې د پوره کولو کوشش وکړئ. که چرې تاسو دا ذمه وارۍ پوره کولے نشئ. او تاسو د خدائي ټول مخلوق سره محبت او همدردی او د هغوئ خدمت کولے نشئ. نو بیا به داوی چې تاسو خپل نوم په دې خدائي فوځ خدمتگارۍ کښې ونه لیکئ. او که چالیکلے دے. او په دې اصول چلید ے نشی. نو بکار دی چې هغوی خپل ځان جدا کړی

ډیر خدائي خدمتگار دی چې هغوی په تحریك کښې شامل خو دی. مگر خپل اصول په سِنه شان نه پیژنی. او په یو معمولی خبره نسزش خوری. لکه ما ته یو واقعه یاده ده چې څه موده کیږی نږه د کانگریس ورکنگ کمیټې په یو اجلاس کښې د شاملیدو د پاره دهلی ته تلے وم هلته په یو موقع کښې یو هندوو چې زما سره په جیل خانه کښې یا تې شوے وو. هغه او به څښل غوښتل مگر ما او بو لو ښې نه وو. نو ما ورته د خپلې لوټې نه او به ورکولې چې هغه ابو ته خپله لپه نیولی ده او ما او به اچولې نو په دغه وقت کښې چرته یو فوټوگرافر زمونږ تصویر واخستو او هغه تصویر "تریبون" اخبار شائع کړو. د هغه خلقو چاچې د ملك او قوم سره همدردی

خونڼ وه ولې د اعتراض د پاره څه موقع په لاس ورغی نو خپله نه کوی. د دې نه یو د لوبه قیصه جوړه شوه خدائي خدمتگارانو ته به یې ویل چې گورۍ ستاسو د پښتنو مشر دے چې یو هندو ته او به ورکوی هغوی نه خو څه گیله نه ده پکار. مگر عجیبه راته ښکاره شوه چې یعنې خدائي خدمتگارانو هم دا خبره محسوس کړه. او زما دا کار ورته ښه نهٔ ښکاریدهٔ نو ما ډیر افسوس وکړو چې یو خدائي خدمتگار دا دانگه ښه نه گڼی. سره د دې چې هغه وعده کوی چې زه به د خدای د تمام مخلوق خدمت کوم. او به ورکول خو ښه و څه خبره نه ده. زه وایم چې که موقع پېښه شوه نو دیو محتاج او رنځور بول نم غوره زول هم زمونږ فرض دی او که هغه هندو وی که سیک او که بل څوك وی چې ما خو تاسو ته ووې چې د خدائي خدمتگار بنیادی فرض د خدای د مخلوق خدمت دے. نو کوم خدائي خدمتگار چې د خدای د مخلوق خدمت شرم گڼی. د خود غرضو خلقو په خبرو پسې ځی هغه خدائي خدمتگار نشی پاتې کیدے. بلکې دا سې خلق تمام تحریك ته نقصان رسوی. بس نن هم دغه خبرې دی چې ما تاسو ته وکړې. امید دے چې سبا به زهٔ تاسو ته د خدائي خدمتگارۍ ذمه وارۍ او ښائم، امید دے چې تاسو به د دې خبرو ډیر غور وکړئ.

یوه ضروری خبره:- ټولو خدمتگارانو ورونو ته به معلومه وی چې زه د څو ورځو نه د خدائي خدمتگارانو او کانگرس لارې نه جدا شوے یم کانگرس د یو تانړی تجویز په بنا د تشدد لاره خونبه کړه. او زمونږ د خدائي خدمتگارانو هغه زړه د عدم تشدد د لاره ده په دې وجه ما اول د کانگرس د ورکنگ کمیټۍ نه. او بیا د آل انډیا کانگرس کمیټۍ نه استعفی ورکړه او س ټول خدائي خدمتگاران او د جرگو ممبران دی په دې مسئله غور وکړی. که د چا د کانگریس

پاتې صفحه ۳۰

# د ولي خان بيانيه

مته وروځ ښاغلي هارون الرشيد خټک پښتون نماینده سره مشر ښاغلي عبدالولي خان سره خبرې اترې کړې وې۔ موږ د هغو خبرو اترو نه د ښاغلي عبدالولي خان د خبرو څه برخه خپلو لوستونکو ته وړاندې کوو۔ {اداره}



## پارټۍ د ډسپلن لاکوم کسان چې د پارټۍ د فیصلو سره اتفاق

نه لري او د ډسپلن خیال نه ساتي هغو له بېشکه پارټي پرېښودلې پکار دي دا کسان خواه عام کارکن وي او که د څه مرتبې څښتن۔ بد قسمتي خو دا ده چې د پارټۍ د فورم د موجودګۍ باوجود دغه کسان پریس ته خپل اختلافي بیانونه ورکوي۔ زه دا عمل د پارټۍ د ډسپلن خلاف ورزي ګڼم۔ بدقسمتي دا هم ده چې کله هم د دې خبرې کوشش شوې دی چې ترقي پسند، جمهوریت پسند او قوم پرست قوتونه دې یو شي۔ موږ دا سې کولو کښې کامیاب شوي هم یو۔ لیکن بعضې حضرات په دغه لاره کښې خنډونه واچوي۔ او د غه تحریک ته نقصان ورسوي۔ دې لړ کښې مې د سابقه نیشنل عوامي پارټۍ مثال درکړم چې دغه پارټي د ملک د شپږو پارټو د یو ځای کولو نه پس په وجود کښې راغلې وه لیکن ورستو د هغې حشر هم هغه څه شو د کومې نه چې تن سیا عوامي نیشنل پارټي تېره شوې ده۔ په دغه وسیع سامراج محاذ ړو بې ګزار سردار شوکت علي کړې وو۔ او په اندروني توګه یې مشکلات پیدا کړي وو۔ زه حیران یم چې د دغو کسانو د دې عمل نه څه مقصد پوره کېږي هم۔ دغه کسان یو دوه سره کتابونه ولولي او بیا د چا

پرواه نه کوي۔ ځانونه عالمان ګڼي۔ دغه کسان کتابي سیاست دانان وي او د اولس د طبیعتونو نه واقف نه وي او نه په حالاتو نظر لري تاسو د دغو ترقي پسندو او کمیونسټانو نه تپوس وکړئ چې صاحبانو د دغه نظام روس، چین او مشرقي یورپ کښې څه حال دی؟ روس کښې اصلاحات او د قومیتونو حقونه تسلیم کېږي په چین کښې د ماؤزې تونګ د پنځه او یاوو بوډۍ کونډه د جیل په تورو کوټو کښې د ښیرو د ریو کالو نه زګېره خوري۔ څوک یې

1494



تپوس نه کوی - د برلن دېوال ونړولې شو مغربي او مشرقي جرمني اخر سره یوشو دغې نظام څومره زمانه دوئ جدا وساتلې شو- هنګری ، پولېنډ ، چېکوسلواکیه کښې څه روان دی کېږی - د دوئ سترګې اوس هم نه غړېږی خدائ دې لې پوه کړی

## نوې اتحاد -

زما په خیال د داسې اتحادونو څه حېثیت نشته ولې چې د پاکستان قومي اتحاد مثال مونږ ته مخکښې دې- اولس د دې تحریک په اواز د نظام مصطفیٰ د پاره لوئې قربانۍ ورکړې- مګر چې د ضیاء الحق مارشل لا حکومت ورته د وزارتونو اټبنې وښودلې نو بیا هغه ټولې قربانۍ او خوارۍ د وزارتونو نه ځار شوې بیاخود نظام مصطفیٰ خیال ورمخکښې شو او نه اسلام د چا یاد شو ځکه وایم چې د داسې اتحادونو حاجت نشته تازه مثال د ایم ار ډی به درکړم- اتو کالو راسې د ایم ار ډی په فلیټ فارم مونږ جدوجهد وکړو او چې حکومت مو په انتخاباتو کولو مجبور کړو نو فیصله دا شوې وه چې مشترکه امیدواران به ودروؤ دې لړکښې د ایم ار ډی اجلاس وشو چې د شریکې امیدوارانو فهرست وړاندې کړې شی - په دغه اجلاس کښې د پاکستان نېشنل پارټۍ کرنل علی ګوهر صیب وئیل زمونږ څو پوزیشن نشته - پکار دی چې پي پي، اے این پي او جمعیت علماء اسلام والا په خپلو کښې سیټونه ووېشی - نو مولانا فضل الرحمن صیب د جیب نه کاغذ راوښکلو اؤ وې وئیل ۱۵ سیټونه خو زما جیب کښې دی او بقایا ۲۷ سیټونه دی اے این پي او پي پي پي خپلو ووېشی ولې بیا پته ونګېده چې مولانا فضل الرحمن او د پي پي خپلو کښې د اتحاد خبرې روانې دی دغه لړکښې د سرحد اسمبلی موجوده سپیکر بېرسټر مسعود کوثر مونږ خبر کړو او دغه شان ایم ار ډی مړه شوه - بیا د صدر په انتخاب کښې د ایم ار ډی د مشر رهنما نواب زاده نصرالله خان د حمایت نه کولو په وجه ایم ار ډی ونخښلې (مغفوره) شوه داسې ټول اتحادونه د اولس مسئلې او مشکلات حل کولې نشی - څه فائده یې نشته - هسې وخت خرابول ښه نه دی

## د قبائیلو اوسنۍ جرګه !!

پخپله د دې جرګې په کېدو ډېر خوشحاله شوې یم ولې چې د انګریزانو د دور نه تر دې وخته پورې قبائیلان رونړه کله هم په یو فلیټ فارم نه دی یوځائ شوی.- او یو انګریز جرنیل خو په خپل کتاب کښې صفا لیکلی دی چې دا قبائل یوځائ کېدو ته مه پرېږدئ که چرې دوئ درنه یوځائ شو نو بیا د دنیا یو طاقت هم د دوئ څه نشی کولې - په دغه وجه انګریزانو پښتانه خصوصاً دغه قبائلان رونړه په مختلفو ایجنسو کښې ووېشل او د دوئ تر منځه یو سړک یا ریل قدرې هم د رابطې د پاره جوړ نه کړو- د دې د پاره چې دوی دغه شان جدا جدا په بیلو بیلو برخو کښې تقسیم وی-او په اسانه پرې حکومت وکړې شی - لیکن دې اوسنۍ جرګې یو ډېر لوئې کار تر سره کړو- ټول یې په یو جمعیت کښې راپېنډ کړه - او د انګریزانو دغه مسلسل سازش یې دړې وړې کړو- دا په خپله سر یوه ډېره لویه کارنامه ده اؤ تر کومه چې د دې جرګې د افغان مسئلې په حل کولو کښې د کردار خبره ده زما خیال دې چې

دا نړۍ محموري جرګه منه ده. او بیا دا چې زما خو د افغان مسئلې د حل کولو او د پښتنو د مشکل کړای د پېنډولو سره دلچسپۍ ده - د دې د پاره هر څوک چې را څرګنېږي شی نه به ورته هر کلی وایم - او د افغانستان د موجوده انقلابي حکومت هم دغه دلچسپي ده چې دا مسئله دې په سیاسي متوګه حل شي ډاکټر نجیب الله سره ما خبره کړېده - هغه د دې مسئلې د حل د پاره ظاهر شاه ته په عبوري حکومت ورکولو یا اهم کردار ادا کولو مخالف نه دے بلکې ډاکټر نجیب الله خود ظاهر شاه ډېر قدر کوی او د هغه د پاره یې په زړه کښې احترام دې - اوس دلته چې څوک دا افغان مسئلې د سیاسي حل خبره کوی هغه منافقت کوی - ولې چې یو خوا خو دوئ خلقوله لاسونو کښې وسله ورکوی او جنګ ته یې تیاروی او بل طرف ته د سیاسي حل ښمائش کوی - د سیاسي حل خبره دا خلق څکه کوی چې پخپلو مقصدونو کښې بد بد ناکام شوی دی خصوصاً د جلال آباد په مارزه کښې چې دوئ څنګه شرمنو دا خبره یې وکړه - حال دا دې چې د جلال آباد د مارزې نه اول دې خلقو د برطانیې د حاکمانو سره په ټیلفون خبرې کړې وې چې د جلال آباد د مارزې په موقع به مونږ تاسو د ځانونو سره بیا یو . چې د جلال آباد د فتح فلم جوړ کړئ - د یورپ خلق حیران دی چې دا څرنګه جهاد دې چې غریبانان ښاریان وژلې شي . هسپتالونه ، سکولونه ، جماعتونه یتیم خانې ، بازارونه او سرکاري عمارتونه نه په بمونو تباه کولې شي او د دې ټولو نه افسوسناکه واقعه خو په هغه ورځ پېښه شوه چې په یو هسپتال کښې د هغو د لاسو زخمي شوی ماشومان چې لاسونه پښې یې مات وو پرامته وو او علاج ګروان وو کېدهٔ چې نا ساپه بم راپرېوتو او هغه هسپتال سره د زخمیانو ماشومانو یو غوغا شو څکه خو افغان کونسل کل آغا دا الزام لګولې وو - دې خلقو پاکستان کښې په درجنو نو ځایونو کښې د ګوریله مسلح جنګ تربیت ورکولې شي - او په دغو کېمپونو کښې افغانانو سره د جماعت اسلامي ورکرانو ته هم ټرېنینګ ورکولې شي اوس د دې خبرې ضرورت دې او کوشش چې له هره ارخه وی د دې مسئلې په سیاسي امن ناکه طریقه د حل کولو ضرورت دې. ږې لرکښې چې له هره ارخه به چې کوشش کېږي مونږ به ورته هر کلے وایو -

## د عدم اعتماد تحریک

ا د عدم اعتماد تحریک ناکام شوې نه دے بلکې په حکومت یې کافي اثر شوے دے او یوجه پرې پرېوتے دے د عدم اعتماد د دغې تحریک په برکت حکومت یو ارخ ته د ایم ار ډي وریا شو - او بله ارخ ته ټوله وفاقي کابینه مشیران وغیره په مستعفي کېدو مجبور شو دا د حکومت د کمزوری کولو او خوزولو د پاره کافي وو او د دې سره د اسمبلۍ د ممبرانو کوم کردار چې مخې ته راغلو او کوم جمعه بازار چې ونګېدو هغه د دې حکومت د پاره کافي وو - ولې چې د اسمبلۍ د ممبرانو کردار په ائینه کښې د ۱۵ ممبرانو د اسمبلۍ فرق څه خبره نه ده - دغه په هره طریقه همنوا کېدے شي - صوبې د اول نه یې نظیر بهتو تر وسیلې وو چې تا په درې صوبو کښې الیکشن بېللې دے ښه به وی چې د ژوندی او سید وحق ومنې او د "جیو او جینې دو" په پالیسۍ عمل وکړے لیکن هغې درېوارو صوبو ته د سزا ورکولو د پاره د یوې پارټۍ او یو یونټ غوندې حالات پیدا کړه او د ټولو

اختیاراتو په خپلو لاسو کښې د اخستو هسې یې راواخستې د غه عمل به صوبو ښا اولګېږ د مرکز او صوبو ترمنځ ټکره شروع شوه چې نتیجه یې دا شوه چې ستاسو مخکښې ده د عدم اعتماد تحریک په دوران کښې زه چونکه د وطن نه بهر وم - ما ته چې خبر راورسېدو چې الطاف حسین او مهاجر موومنټ ترمنځ اتحاد وشولو نو ما بېګم نسیم ولي خان ووئیل چې دا خبره د الطاف حسین په فائده کښې نه ده هغه حیرانه شوه او تپوس را نه وکړو چې ولې؟

ما ورته ووئیل چې کوم وخت سنده اسمبلي ممبرانو چې اوس د پي پي نه خفه شوي وو او دا الطاف حسین سره یې خبرې کړې وې. د پي پي سره به په کلکه ودرېږي ولې چې اوس به سیاست د صوبو او قومیتونو په بنیاد کېږي او پنجاب خو په ختمي توګه باندې په انتخاب کښې دا ثابته کړه چې هغه په نواز شریف باندې مکمل اعتماد کوي دغه شان په بینظیر بهټو مهاجر موومنټ او بلوچو د اکبر بګټي متې مضبوطې کړې مګر د دې ځائې پښتنو څه واضح فیصله ونکړه چې کوم خوا ته لاړ دي، او څه کول دي دا زمونږ بدقسمتي ده چې مونږ تر اوسه خپل ځانونه ورته پېژندل - او څه خاص فیصله اونکړې شوه او کوم ممبران چې هغه ته تللي وو هغوي د خلقو د حقونو خبرې نه کوي بعضې ممبران خوله سره د صوبې د حقونو او د اولس د ضرورتونو نه خبر هم نه وي د اجلاس په دوران کښې یو مولوي صیب چې له خیره د اسمبلۍ ممبر هم دے مالره راغې او راته یې ووئیل خان صیب مونږ په اسمبلۍ کښې شریعت بل وړاندې کوو تاسو یې حمایت کوئ. ما مولوي صیب ته وکتل چې جناب دا راته ووایه چې هغه بدکوم بدبخت مسلمانان وي چې د شریعت حمایت به نه کوي؟ لیکن دا را ته ووایه چې خدای یو، قرآن یو، رسول یو او د یو حدیث باوجود تاسو پخپلو کښې ولې نه یو کېږئ؟ او مونږ کوم شریعت ومنو د فضل الرحمن شریعت د سمیع الحق شریعت، د مولانا نوراني شریعت او که د مولانا مودودي شریعت. مونږ ته هم پوره لاره وښایئ دا د دې خلقو حالت دے لیکن تر اوسه شریعت بل لا مخې ته راغلی نه دے -:

## جنرل ضیاء الحق سره خبرې اترې

کله چې زهٔ ضیاء الحق صیب سره خبرو اترو له تلې ووم نو هغه وخت هغه سره نور جرنیلان صاحبان هم ناست وو - ما د نظام خبره وکړه نو یو جرنیل صاحب په ډېره زوروتیا ووئیل - خان صیب اوس د شریعت او اسلام خبره وکړه - ما ورته ووئیل چې جرنیل صاحب ته رښتیا وائې؟ جرنیل صیب ووئیل ولې نه. ما ورته ووئیل - جرنیل صیب زما په شریعت او اسلام کښې هیڅ نقصان نشته - ستاسو پکښې نقصان دې، ولې چې اسلام کښې د جهاد فی سبیل الله تصور دے نه به ستا تنخواه وي او نه دا د انګرېزانو تقلیدي وردي او نه جرنیلي - او نه به دا دومره ارام او مزې او سهولتونه دا کار، دا بنګله، دا نوکر چاکر وغیره بیا به پښېما نه یې. نو ضیاء الحق صیب هغه جرنیل ته ووئیل خان صیب سره بحث مکوه د قرآن حافظ دے په اسلام ښه پوهېږي دې آزاد پرېږده.

نو مونږ وایو چې په شریعت کښې مونږ ته څه نقصان نشته که نقصان وي نو جاګیردارانو سرمایه دارانو به وي

## پبلک اکاونټس کمېټي-! د اسمبلۍ په اجلاس

کښې د پبلک اکاونټس کمېټۍ چیرمېن او د وزیراعظم صیبې سخر حاکم علی زرداری د زور حکومت په خلقو ډېر سخت سخت الزامونه ولګول- د انکم ټېکس د غلاکانو د قرضو د وصولو او د معافیانو متعلق نه یې وکړه نو دا ځکه چې ای یو ممبر پاسېدو او وې وېل موږ د ضیاء د باقیاتو لمنه رانکو نکوا والزامونه لګونکو خپل کریوانونو کښې وګورۍ - د ضیاءالحق ډېر تیر باقیات خو تاسو پخپلو غېږ وکښې کېښنولی دی - وزارتونه او ذمه واری ورته ورکړی دی او بیا یې د پیپلز پارټۍ د جیالو کارکنو د بد عنوانو یو اوږد فهرست وړاندې کړو او د وزیراعظم نامتو سخنان او د دغې کمېټۍ د چیرمېن د حاکم علی زرداری ځوړنې اصفاعلی زرداری باندې یې تنقید وکړو او تفصیلات یې وړاندې کړه نو ما سوچ وکړو چې خبره صرف د نوې او زوړ غلو د وه نوره هیڅ خبره نه ده - هندوستان ته وګورئ هغلته خو هم جمهوریت دے د وزیراعظم د انتخابي حلقې آمیهټي کښې د اپوزیشن له اړخه د ګولو شوو الزاماتو الیکشن کمیشن ځنګه نوټس واخستو - او دلته د الیکشن کمیشن څه حال دے د دې مثال موږ د عوامي نېشنل پارټۍ د احرار خټک د کامیابۍ د اعلان ورکولې شو اول یې د کامیابۍ اعلان وکړو بیا یې نتیجې مبدلې کړے - د دوی د کارکردګۍ اندازه د دې خبرې نه کېدې شی - پاکستان کښې سیاست اوس د روپو پېسو خبره ده اول خو دا شکایت وو چې ووټر خرڅېږی لیکن اوس خو دې عدم اعتماد تحریک دا ثابته کړه چې د ووټر نه زیات ممبر خرڅېږی اوس ښکاره شوه چې پاکستان بادشاه هغه سړے جوړېدے شی چې دوه درې اربه روپۍ لګولې شی - اندازه وکړئ او سوچ وکړئ د دې ملک او غریب اولس مسئلې به څنګه حل شی او څه حالت به یې شی - موږ د کوم ځای نه کوم ځای ته رارسېدلی یو - د عدم اعتماد تحریک دا ثابته کړه چې د ضیاءالحق په دور کښې چې د ممبرانو خرید و فروخت چې په بندو کمرو کښې کېده اوس په پارلیمنټ د سنه کېږی - او سوات مری په ازاده فضا کښې هم کېدېشی دا یو افسوسناک عمل دے چې په هیڅ صورت کښې هم د ملک په مفادو کښې نه دے:

**رسول بخش پلیچو پخقله:** هغه دې پې پې دوباره اتحاد خبره کړېده! د اسې څه خبره نه ده شوې - زموږ په پي پي پي هیڅ باور نشته څو څو وارې مو ازما ښلې کړې مه پوری چې د رسول بخش پلیچو سره د ملاقات خبره ده هغه د اسې څه خبره نه ده کړے ما هغه ته د پارټۍ د سپلن خبره کړې ده چې د صدر سره او د وزیراعظم سره د ملاقات کولو په باره کښې وړاندې شوې وه -

## د منځو مانۍ انتخابات - د پاکستان -

سیاست کښې موجوده تبدیلی چې په نظر کښې وساتلې شی نو خصوصًا پنجاب سنده او بلوچستان په سوچ یوه خاص تبدیلی راغلې ده بنظیر بوټو د پنجاب د سوچ د تبدیلۍ په رڼا کښې د منځو مانۍ انتخاباتو خطره پسې نښی اخیستې هغه په څه نوره طریقه وخت تېرول غواړی او د دغې پېړۍ په خپر د تېرولو د باره دا هم ازدی د ملګرو سره لګیا ده خبرې کوی کوم چې خو ورځې مخکښې هغې غیر ضروری ګڼلې وو او عدم اعتماد تحریک یې ورته پام کړو.

1496



# د ترقي پسند و قوتونو

# پښتنو خلاف سازش!

م — ش.

بعضې خلق داسې دي چې يو وار ے نوټ ته بکيا نه وواتي نو دچا پلا ريې پرې نوټ کولے نشي. او که خبره د انصاف وی نو هغه به کوم ناپوهه وی ۽ چې د اسلامي جمهوري اتحاد او متحده حزب اختلاف ترمينځه به فرق نشي کولے داخو يو واضح حقيقت دے چې اسلامي جمهوري اتحاد د سياسي پارټو ترمينځه د انتخاباتو د پاره وشو. دغه ګوند خپل انتخابي منشور چاپ کړے دے. خپله جنډه لري او تر اوسه د اسلامي جمهوري اتحاد په نامه د اسمبلو دننه او بهر کارکوی.

بل طرف ته متحده حزب اختلاف دے چې د قامي اسمبلۍ دننه د مختلفو پارټو د قامي اسمبلۍ ممبران متفق شوی دی چې کوم د دوی نه خپل منشور شته نه يې جنډه او نه په عوامو کښې تنظيم البته د اسمبلۍ دننه به دا کوشش کوی چې حکومتي ډله خپل مخ او سم ته پاتې نشي او د حکومت د وطن دوسته او عوام دوسته پاليسي ملګرتيا وکړی او په ملک کښې د يوې پارټۍ په بنياد د حکومت د چلولو پاليسي ناکام کړی او يا که حکومت په عوامي مسائلو حل کولو کښې ناکام شوے وی نو هغه يا هغو مسئلو حل کولو ته چمتو کړی او يا يې بدل کړی او هم دغه د جمهوري عمل تسلسل قائم ساتل او وده ورکول دی. ليکن ډيره افسوس ناکه خبره دا ده چې زمونږ د ملک او بالخصوص د پښتونخوا صوبې سياستکار داچنې لرې ده چې اے اين. پي آئي جې آئي سره ملګرې شوه او خپل اواز او تشخص يې ختم کړو.

دا اواز هغه وخت اوچت کړے شو چې پېښور کښې د پېښور ضلعې اے. اين پي د اهتمام لاندې يو کامياب د باچاخان امن کانفرس په ډيره کاميابۍ سره سرته ورسيد و په دغه کانفرس کښې د ملک دننه د ترقي پسند و او قوم پرستو ليډرانو د شامليدو نه علاوه د بهر عوام دوستو ملکونو نمائندګان هم شامل شوی وو چې په هغو کښې د سويټ يونين د افغانستان خلق ډيموکريټک حکومت او د بهارت حکومت په سر کښې حساب دی

په دغه کانفرنس کښې د وخت د تقاضو په رڼا کښې د دغه ضرورت اظهار په شدت وشو چې د پاکستان د ترقي پسند و قوتونو د راجمع کيدو عين وخت دے. او د اے. اين پي سنټر مشر خان عبدالولي خان په ډيرو ښو لفظونو او فراخه سينه دغه تجويز ونه يواځې قبول نکړو بلکې د عملي کولو په اهميت يې زور وغورزولو.

د باچا خان د امن کانفرس نه مخکښې هم د دغه تجويز د عملي کولو د پاره د کوششونو لړ راغوره کړے شوې وه. چې پي. اين پي او اے اين پي د يو ځاى کړے شی او بيا دی دغه ځيلو کښې مدغم ګوند نورو ترقي پسند ولړو رابطه کړی

او دغه شان دې د ټول پاکستان په سطحه يو منظمه ډله جوړه کړے شی. په دغه لړ کښې د ارواښاد بزنجو او د اے. اين. پي له خوا د مقرړ ی کميټۍ يو اجلاس هم شوے ؤ. اګر که دغه اجلاس کښې قطعي فيصله ونه کړے شوه ليکن ترقي پسند و قوتونو راغوښتلو تجويز ته عملي جامه د ورا غوښتلو د وخت اهم کار ګڼلے شوے ؤ. ا

کار ورله هم روان دی.

دَ باچاخان دامن ایوارډ هم ناکې شوې کمیټې ده بیرغوره او چانړ نه پس دَ سویت یونین صدر ښاغلی میخائل گورباچوف ته ورکړو او بیا داحقیقت هم تسلیم کړے شوے دے چې دغه قوتونه صرف په خان عبدالولی خان راغونډېدې شي په داسې حالاتوکښې هیچرې امریکه په ارام نشوه کښیناستې او روسیه گنار په ولی خان او د هغه په پارټۍ داسې وشو چې دَ خان عبدالولی خان خلاف دا نارې اوچته کړیشوه

ولی خان خپل رول پرېښود

دصوبائی مختارۍ اواز

شاته وغورځولے شود افغانستا

دَ جنګ بند ولو د نارې مرۍ

خپه کړے شوه او لاړه دآئی جے

آئی. ملګرے شو. حال دا دے چې. د اے. این پي دَ صوبې ورکنګ کمیټې دَ شپږو ممبرانو نه علاوه په اتفاق سره دَ پښتونخوا په صوبه کښې دآئی. جے. آئی پارلیمانی ډلې سره دَ پښتونخوا داے. این. پي دَ پارلیمانی ملګرو په اسمبلۍ کښې دننه دملک او صوبې دَ ښېګړې په تجویز کښې دملګرتیا تجویز پاس کړے دے. داخبره دَ ډیر تعجب ده چې دَ شپږو کسانو رایې دې په یو عظیم اکثریت ومنلے شي حال دا دے چې دغه شان په خپله دَ جمهوریت دعویدار دی او که چرې دَ هغو ښاغلو په خیال دَ صوبې ورکنګ کمیټې د دغې مسئلې دفیصله کولو حق نهٔ ورکوۀ نو بیا چې دغو ممبرانو دَ مخکښې نه دا سوال اوچت کړے وے او بیا ی په دغه بحث کښې حصه نهٔ اخستې ومناسفانه یوائې دلارې بلتون راتلے بلکې هغوی صرف

دخان عبدالولی خان دراغونډولو دَ پاره نارې اوچته کړه.

چې اے. این. پي. دآئی. جے آئی سره اتحاد وکړو

نو که چرې دغه قسم اتحاد دا صرف پرېښودل وی او یا سودا بازی وی نو بیا خو دپیپلز پارټۍ سره پارلیمانی اتحاد هم یو جرم دے. حال دا دے چې هغه اتحاد دضمنی انتخاباتو دپاره هم پکار او ستې شوے دے. او دپیپلز ګوند سره دغه جوړه هم د دغو معترضینو رونو ژبه خوښه شوې وه او دپیپلز پارټۍ انتخابي منشور او عمل هم واضحه دے

اَس به دا وګورو چې دولی خان او اے. این. پي دغه بې بنیاده الزامونو ولی خان او دَ هغوی پارټۍ ته نقصان ورسولو او که دوخت دَ تقاضو ملایې ما ته کړه ؟!

داحقیقت خو دنیا ولیده چې نهٔ خو دغو دملک جمهوریت او دافغان دثور انقلاب دپاره کار وکړو او نهٔ یې دغه کار تر سره کول غرض وُ بلکې دومره یې وکړ چې ترڅهٔ وخت یې په شاتو کښې د ترقی پسندو او قام پرستو قوتونو په خولو کښې یې زهر واچول او د هغه مسئلې یې ترڅهٔ وخته داسې رنځورې کړې چې دَ یو کیډ و او یو کولو توان یې نرې څهٔ وخته پورې واخستو

خو د دغو کسانو غرض (لکه چې دَ دوی عمل ثابت کړو) دَ دغو مسئلو حل کول نهٔ وو بلکې هغه مرکزیت نړول وو کوم چې دخان عبدالولی خان په شخصیت کښې مضمر وُ. او څکه په آرام کښیناستل دَ هغوی دَ پاره ګران وو- ولې چې هغوی بخپله منصوبه کښې مکمل ناکامیابه شو نو بیا یې دلوې جرګې درا بللو ناکامه منصوبه تیاره کړه. او دَ

ځي . منصوبې نه هم دا حقیقت واضح شو چې بعیرکه باچاخان دکورنۍ نه پښتانه په بل چا اعتماد نهٔ کوی نو کهٔ باچاخان مشر ځوی خان عبدالغنی خان یې راپورته کړو . دخان عبدالغنی خان خپل مقام دے لیکن په موجوده وخت کښې دوی دهغه نهٔ صرف دومره کار اخستے شی چې پښتانهٔ نور هم تقسیم کړی . او ځکه چې دخان عبدالغنی خان صحت او عمر اُس هغه نهٔ دے پاتې شوے چې دپښتنی او ترقی پسند سیاست بېړه په سر اوچته کړے شی او کهٔ هغوی په زغم او متخیله نتیجه یې دا راوځي شی .

چې یو طرفته کهٔ ترقی پسندو قوتونو دراجمع کولو سیاسی قیادت ختم شی او بل طرفته کهٔ پښتنو د راغونډیدو چاله خوره شی . ځکه چې په دغه جرګه کښې ناست کسان نهٔ خو کهٔ پښتنو په غم غمژن دی او نهٔ دیو داسې نظام راوستو قائل دی دکوم په ذریعه چې

سپوره وی که پوره
وی شریکه به وی

دا جرګه هم په داسې وخت کښې رابلل ضروری وګڼلے شو چې کوم وخت خان عبدالولی خان دلندن نه واپس خپل وطن ته تشریف راوړو او دټول پاکستان سیاسی مرکز وګڼلے شو

بل طرف ته بیا یو کوشش شروع کړے شو چې اے . این پي پاکستان ترقی پسندو توتونو ته د راجمع کیدو مقام جوړ شی ، دغه وخت کهٔ پښتنو دلویې جرګې په دغه حقیقت پوه دی چې د احمد شاه ابدالی نه پس کهٔ ټول پښتون لویه جرګه بیا نهٔ ده راغونډه کړے شوې . دغازی امان الله خان په حقله هم کهٔ پښتنو ټولې قبیلې نه وی راغونډې کړے شوې البته دافغانستان ؛ حکومت دغه روایت برقرار ساتلے دے . او نن کهٔ پښتنو ولیش په داسې طریقه شوے دے چې ټول پښتانهٔ نشی راجمع کیدے بیا هم دغه یو واضح حقیقت دے چې کهٔ باچاخان په ژوند خان عبدالولی خان پښتنو خپل تام ته غوره کړے دے . دا وخت په میدان کښې یو خان عبدالولی خان کهٔ یو پښتون سیاستدان په حیثیت منکاری . بل هیڅ یو داسې شخصیت نشته چې پښتانهٔ پرې راغونډ شی نو

آیا د دغو کسانو په حقله دا خبره بلکل واضحه نشوه چې دوی کښې صرف پښتانهٔ سیاسی میدان ته ویستل غواړی . کهٔ خان عبدالولی خان رائے سره اختلاف کیدے شی لیکن دغه سره هیڅ اختلاف نشی کیدے چې دپښتنو اعتماد صرف په خان عبدالولی خان او دخان عبدالولی خان په نشان سیاسی شخصیت په پښتنو کښې بل نشته

تر کومه حده چې دعدم اعتماد دتحریك تعلق دے نو هغه د آئی . جے آئی له خوانهٔ پیش کړے شوے بلکې کهٔ متحده حزب اختلاف دطرفه پیش کړے شوے دے آئی . جے . آئی د متحده حزب اختلاف یو جز دے خو که حقیقت وکتے شی نو دا اے . این . پي خو دهغه وخت نه په پیپلز پارټۍ اعتماد ختم شو بیدے چې کوم وخت ذپښتونخوا دا اے . این . پي کهٔ صوبائی اسمبلی ممبرانو سره سراسر بے لوظتیا وشوه اَن تر دغه چې کهٔ پښتونخوا مخلوط حکومت نه کهٔ اے . این . پي وزیران مستعفی شوا و معاهدهٔ .

باقي صفحه ۳

# زړه نوي

۱- بېباک -۱

کل زمین لیونے نن بیا لیونے لیونے شه
چې پاکل پاکل شان شکاریدو. دَ سراوکیرې
وېښته یې ببر وو- او ډېر په بد حال ؤ- هغه
په حقیقت کښې دَ تهر درویش برجان درویش
. یو ژوندے مثال دے- چې چرته شه ناشونې
ودینې. نو په بل چا خو یې وس نه رسی. نو
په خپل ځان خو یې وس بروی. هسې هم
لیونے دے- او چې لا شه خبره یې په مازغو
بده ولګی- نو راشه که یې کورے. په بلویلو
سر شی- او چې موشادې ته یې وکورے- نو
پوهه به شے پرې- چې نن بیا دَ اشنا طبیعت-
خراب دے- او دَ تندی نه یې صفا اندازه
لګی- چې دولس بجې پرې وی.

هغه بله ورځ مې ولیدلو. خدائے شته

زه یې په ایمان ډېر ښه پوهیږم- نو دَ لرې نه
چې را روان ؤ- دَ هغه دَ قدم مونو نه چې دا اندازه
په اسانه ولګوله- چې بیا شه ناروا شوې ده- او
اشنا دَ زړهٔ دَ تشولو نیت کړے دے- نو زهٔ پرې
مخکښې شوم- ما ورته وئیل ، ۹
خیر دے مُلا غمګینه! بیا تا چا خر په خته کښې
نښتے ؤ- او دَ خر نه لګېده- او نه یې غوړوه
وه؟

" ملا غمګین نه دَ ټپیر ؟ " - لیونے نو دهم لیونے

شو-" هلکه که دَ کور نه په قار راوتلے ئے- نو ښیله
خبره ده- ما ورته ووئیل - ګنی نو دَ ملا غمګین په
دې خطاب خو پکار ؤ- چې ته خوشحاله شوے
وے- دَ لیونی کل زمین نه دَ ملا غمګین دا نوم به
درله ښه وی. هسې هم دواړه هم قافیه دی.

وئیل یې تائیکه! دَ خطابونو نوم. خو به
راته هډو دَ سره اخلے نه. په زخمونو مې مالګې
مه دوړوه- په زړه مې تیاره توره همه زیاتېږی-

ما ورته وئیل کل زمین خان پوهه یم در
یا ندې تول ورته غوږ غوږ شه چې غوږونه غوړوونه
کېږم. چې شه دې په زړه وی. راته یې وه یه.
او وعده دَ مخکښې نه در سره ښه کوم. چې شه
دې ووې هغه په زړه نوې کښې چهاپ کوم.
خو دا راته ووایه - چې دَ خطابونو" نه ولې دومره
زړه سترے ئے.

او چې لیونی دَ خپل نوم دَ چهاپ کیدو
خبره واوریده له- نو اواز یې عبرک شو. وئیل
یې تائیکه! چاچه شه پرې په پیردې رحمت-
شه. چې په زړه نوې کښې چهاپ کوے. نو بیا
خو درته خامخا دا خپل زړه تشوم- خو زما دَ خبرو
نه په هغه دَ کوڼ مُلا خطبه نه جوړ دې. چې
شه درته وایم. که هغه چهاپ کولے شے. نو ډېره
ښه ګنی نو ........

ما ورته ووئیل - هلکه نور نهٔ پوهیږم.
خو که پوره یقین دې نه وی- نو تا ئې را وړم.
او ستا ټولې خبرې ټیپ کوم- بیا چې چهاپ شی-
نو فرق پکښې وکوره.

وئیل یې تائیکه! نو واوره- دَ خطابونو
سره مې په زړه تیارهٔ ځکه راځی- چې خان بهادران
خان صاحبان، سر صاحبان، انریری مجسټریټان، دَ
مسلم لیګو شیئن پوش ډېره ماران، کوټک ماران مې
دَ خطاب دَ توری دَ امیدوار سره مخې ته راشی.
او چې دَ دوی دا خبیث شکلونه ووینم- نو هغه دَ

02



سرو چه سو شاه زلمی مې مخې ته راشي. چې ژړ دی په ډنډ و مړه شوی دی. دوی د ژمی پرېخني کښې اول په کونګونو وهلی دی. او بيا یې په سځ تالو کښې اچولی دی. د تېلو په کړو کښې یې اچولی دی. ځکه چې هغوی ازادی غوښتله. انګريز یې د ملک نه شړلو. نن هم په لکونو کورونه د دوی دلاسه وران پراته دی. نن د هغې سنوکمارو بچې در په در او خاورې په سر دی. څوک چې د دې ډنډ ه مارو او کوتک مارو په ډنډ و مړه دی. او خدائے خبر چې ترڅو پورې به د پېرنګی بابا په آزار ککړ وی.

ما خبرې ته خوله جوړوله. چې کل زمین لیونی را با ندې راوداښکل وئیل یې نا ئیکه! زما پوره خبره واوره. ذره چې د هر زاډک شوے دے. ته نن صرف د خپلو غوږونو نه کار واخله. او ما هم په دېره سعادت مندۍ ورته غوږ کېښود. لیونی بیا په چغو سرشو. او خپل تقرير یې شروع کړو. کیرچا پیره کواندیان هم ودرېدل. وئیل یې ناځیکه. د پېرنګی بابا ازار چې څوک وهلی دی. په دې دنیا خوږېږي. همه ورځ نه دالیدلی. او د آخرت نه یې خدائے خبر دے. چې دنیا یې ورانه ده. آخرت به یې هم روښانه شي ورکړی.

او چې د پېرنګی بابا خدمت چا کړے دے. په دې دنیا جنتيان دی. او که اخرت یې د ډنډ و ترکے وی. نو زما او ستا پرې څه. هسې هم د آخرت نه هيڅوک مات کوناټي نه دی راتښتېدلی.

خان بادران هم په مزو کښې وو. د خان بادرانو ځامن هم په مزو کښې وو. او اوس یې د نمسو هم مزې دو کړې دی. او خدائی خدمتګار هم د خدائے په قهر اخته دی. ځامن یې هم د نېټې ورځې نه خبر نه شو. او نمسی یې هم سردالی بر والی ګوځې. دغه که د پېرنګی بابا. ازار نه وی نو څه به وی.

د منتې د بېو خان بادر صاحب نمسی، د خپلو مفادو دپاره د بو تو مرحوم د نوکرۍ نه استعفی ورکړه. او د خدائی خدمتګارو په ډله کښې شامل شو. نو دوی ترې نه پاس آسمان جوړ کړو. او د لوړې شان "قربانۍ" یې ورله دومره قيمت ورکړو. چې د هغه نه یې خپل ځان خطا کړو. او اوس دا دے. عوامی نېشنل پارټۍ ته عقل ښائی.

اوس هغه د مرکز بالادستی غواړي. بالکل هم دغه رنګ. لکه څنګه چې بې نظیر بوټو په صوبو باندې د مرکز بالادستي غواړي. اوس هغه وائی زه د مرکزی کونسل ممبر یم. او د صوبې صدر زما نه تپوس قدرې هم نه شي کولے. زما خپل اختيار دے. چې که په بله پارټۍ کښې شاملېږم هم خو بشير بلور زما نه تپوس نه شي کولے. د هغه داخيال وو. چې د سینټ د ممبرۍ د برکته به عوامی نيشنل پارټي زما هر قسم ناز برداري وړي. ځکه چې زه خو د سینټ ممبر یم. خو عوامی نيشنل پارټي یو اصولی پارټي ده. دا خو پیپلز پارټي ده. چې د خپلو ممبرانو دومره "خاطر" کوی. چې منظور موهل جار په حقه فارورډ بلاک جوړ کړے دے. او بل ممبر یې د نوازشريف په وزارت کښې شامل شوے دے. ولې دوی یې. د پارټۍ نه تړ اوسه نه دی ویستلے. هم دغه رنګ د آئی جے آئی ممبران هم د وزارتونو په مزو اخستلو کښې بوخت دی. ولې د آئی جے آئی ممبران هم دی.

ولې عوامی نېشنل پارټي د خپلو اصولو دومره خيال ساتي. چې د دۀ د سينيټرۍ خاطر یې هم ونه کړو. او د پارټۍ نه یې وو یستلو. اوس دې چغې وهی کنه!

د دۀ سره دی څوک. زه دا په دعوی وئیلے شم. چې دې د اے این پی په ټکټ هم په متهٔ کښې د یونین کونسل یو سیټ هم نشی ګټلے. پاتې لا په آزاد حيثيت یا د بلې پارټۍ د امیدوار په توګه

1503



بس دغه د سینیټ ممبري دې یې خدائے پاک نصیب کړي. د خان بادرانو اولاد هسې هم د پېرنګي بابا په دمارنګ دے. لا د هغې اثر پاتې دے ځکه خو پرې خدائے پاک اعاین پې هم مهربانه کړه. کتې نو د دې نه زیات اهل خو حاجي عدلي و. چې د حکیم عبدالجلیل ځوئے و. ارباب همایون و. چې د ارباب سکندر مرحوم ورور و. افضل خان لالا و. او نور به درته کوم کوم یادوم. خوشاید چې دوئ دا انعام مؤلفتالقلوب غوندې ورکړې شوې وي. عجیبه خبره خو دا ده. چې د دوئ یو بیان هم په اخبار کښې چرته نه و راغلے. او مونږ به وئیل. چې دې د بیا نو نو شوق نه دے. خو چې کله یې خپل تمنیا کړو. نو اوس د دې خوارې پښتو دومره بدې نوکارې دی. چې خدائے مودې ترې نه په امان کړي.

ګل زمین لیونے په دومره ورور تقریر لا سټړے نه و. آواز یې نور هم اوچت شو. وئیل یې. نا ئیکه دا هم وليکه. چې عوامي نیشنل پارټۍ دې د اُنده دپاره خیال ساتي. چې دا سې د لستوڼي ماران د ځنګښې نه وپېژني. دا څه خدائي قانون نه دے. چې خوار دې د همیشه دپاره خوار وي. او مار دې همیشه مار وي. د تقریر دا غاخورې به ارو مرو دالورې دې کښې ته راغورځېږي. او که مونږ اوس هم سنبه او بیا ونه پېژندل. نو هغه ورځ لرې نه ده چې د پښتنو نوم او نښان به خدائے مالکره ورک شي.

د پېژنګي بابا خبره او که دعا که ډېره ستجابه هم ده. ولې زمونږ د لاسه به سرخوري او پکار ده چې سر وخوري. که مونږ هم د خان بادرانو د نمسي ادکري سو پالنې کوو. نو بیا خو به سدم ته شینو وي! بس بس لیونیه! ماورته ووئیل. چې دا څه دې ووې دا ډېره ده. نوله زړه نوې هم ستا د خبرو نه ډکه شوه. بلې خبرې ته دې پکښې ځای ځائے —

پاتې صفحه ۳۰

# ډالۍ

م. ش.

هغه دمینې ډک زړګې ته په غور وکتل. زړګې ې د حالاتو په آره تول قطرې قطرې و او هره قطره ې د مینې په شرابو مسته او د خپل یار د حسن سپرلي نه مسکې وه. هغه ته خپل زړه ډېر ښکلے او بې بها لال ښکاره. هغه فوښتل چې دا بې بها تحفه یار له یوسم مین د زړګې دانه وانه قطرې دامید په تار راغونډې کړي. د وینې په سرخۍ ې ځ تک سور کړو. دد ړ دونو په ګلانۍ کښې کښېودو او په عاجزۍ او په ویره ویره ې خپلې معشوقې ډالۍ کړو. معشوقې ورته په غور وکتل مین د معشوقې د شونډو د ر پیدا وې په انتظار کښې نا ګاه وُچې دیکښې سر دا انکار په شکل کښې وخوزېد و دمین د لاسه د دردو نو ګلانۍ پرېوته د زړګې قطرې دانه وانه شوې او دا وخت مین دا سې محسوس کړه لکه وړوکې ماشوم چې د کوټې نه را پرېوځي او دانه وانه شي.

دا سې خاخوږي دوستان پیدا کړه چې تاوتوکی. ستا په لیکونو ډېرې توجه سره غور وکړي. ستا غلطۍ لکه د یو ناترسه دښمن تا ته په ګوته کړي. که خلق ستا لیک وغندي نو په صبر او توجه پرې غور وکړه. ښه خبرې منلو کښې څه شرم نیشته. د لویې او کبرنه ځان وساته. په دوست او خوشامند کر کښې تمیز وکړه. خوشامند به تعریف وکړي خو د هغې نه د هغه دغه مطلب نه وي. غلط تعریف ته همیشه د شک په نظر کوره. زمونږ په دې دور کښې چې په کښې بلا لیکونکي دي. هر چا ته یو نه یو احمق صفتې ملاوېږي.

(یو فرانسیسی ادیب او نقاد)

# ښځه

پېغله سلمیٰ شاهین

اے نازکې ګل اندامې دَ حوا لور
څو مره ګران د کائنات
د تخلیق کار دے
خو په دې ئے ته خوشحاله چې به مور شم

دا جنت چې دې د پښو لاندې ښکاریږي
تا ساتلے دے په مینه
وا په چاله
هم هغه له چې په دې هم نه پوهیږې

ښځه مور ده، ښځه خور ده، ښځه لور ده
ښځه نور د کائنات دے
خو زما د قام کهلو نو
ښا ښسته جوښو
په قسمت کښې موخه شته دے؟
که څپیا کوله پیدا یې
کیر چا پېره نظر وکړې
د ادم حا من جابر دی
کله پلار شی مجبوریږی

کله ورور شی بیا خرخیږی
په محفل کښې چې کښېږی
برلنډی غنډې چورلیږی
دا دې خور ده
دا دې خور ده
دا تړې هېروی چې اے مورې
تا خوارې وه ماله کړې
که په تن مې جامه نه وه
تا وه ماله پیدا کړې

که دې زړه د ولوړې شین وو
زما غم به ژړولې
تا کنډلې تا وینځلې
د چا خان امیرجانې به
خو زما د ژوند د پاره
هره سخته دې زغمله
زما پلار د مجبورۍ نه
ته په ډاګه پرېښودلې
د چا بلې خوږه غېږ کښې
لې خوږې نغمې وېلې

ته یواځې، ته یواځې، ته یواځې

سلیم راز

# غزل

دَ روایاتو احترام هم کوُو
خو بغاوت لـه زوړ نظام هم کوُو

مونږ دَ سحر په پلوشو باندې مرَه
زیست په تیرو کښې دَ ماښام هم کوُو

زلفې خورې ورې موخوښې دی خو
دَ ژوند ترتیب لـه اهتمام هم کوُو

زمونږ په مخکښې زمانے کونکے دی
مونږ دَ فطرت سره کلام هم کوُو

زړهٔ موخود سره دے بې سره نه دے
دَ ښائیستاؤ سره ناکام هم کوُو

میده کښې تېر لـه سر او مالـه که یو
خو خپل ګرېوان لمن تـه پام هم کوُو

یواځې سترګو نه یې راز نه څښو
کله نا کله غړپ لـه جام هم کوُو

1506



فضل دین خټک

قید دے زولنې دی زنځیرونه دی !
عشق کښې لیونو دغه کارونه دی !

شپه د فراق او اوښکې آهونه
ورېځې دی، سیلۍ دی، بارانونه دی

چرته غریبي ده، لوږه تنده ده- !
چرته خوشحالي ده، سرودونه دی !

- زهٔ نهٔ یم یواځې د عشق لاروکښې !
- ځان نه ئې تاؤکړی ستا غمونه دی !

څیرې کریوان دلیونو په شـــان !
غاړه کښې ئې او ښکې امیلونه دی !

چرته بلبلان سوې ناری کـــوی !
چرته دَ خټک سوې آهونه دی

# قطعې

خلق که ما په لیونو یادوی ——— رقیبه تا کله په ښو یادوی !
نن بې مطلبه یارانې چرته دی ! ——— خلق خو خدائ هم په پېسو یادوی

چې قدغن شو دَ اشنا په دیدنونو ! ! ——— لیونی ځکه ورو ختل په غرونو
هغه څوک دی چې خزان ته غاړه ورکړي ——— هر سړې دے طلبګار دَ سرو ګلونو

څومره راغلی څومره تلی خلق ! !
خپل دَ چا نشو دغه نیکلی خلق ! !

څهٔ شوکهٔ خله مې تری نه وغښتله
په تشه خله دی چلوټلی خــلق

(د زړهٔ ملګری)

# فلسطين دَ تاريخ په ژبه

مرتضیٰ شاهين

نن پرون دَ مېنځنی ختيځ دَ فلسطين مسئله بيا ژوندۍ شوې ده - او دَ نړيوالو توجه ئې خپل طرف ته کرځولې ده - ددې مسئلې شا منظر دَ عجيبه ډول او زړه راښکونکې دے - کله چې لومړې عظيم جنګ شوروشو - په هغه وخت کښې مېنځنی ختيځ دَ ترک بادشاهانو په قبضه کښې وُ - عثمانی بادشاه دپه عظيم جنګ کښې ماتې وکړه - او دَ مېنځنی ختيځ ټوله علاقه ئې د لاس نه لاړله - انګريز استعمار دَ ترکی صوبو لبنان، شام عراق او اردن له دَ جدا جدا ملکونو حيثيت ورکړو - او دَ فلسطين خاوره ئې ځنې له ولقه کښې ونيوله - يهود يو داسې قام وُ - چې هغه زمانه کښې په ټول يورپ کښې شيت او پرک وسيدو - خو په بنيادی توګه مالدار او شتمن خلک وُو - او په يورپي خلکو کښې ئې دَ تحليل کېدو نه خپل نسل بېل ساتلے وُ -

ددې کبله ترې دَ يورپ خلکو سخت نفرت کولو - ځکه يهوديان هم دَ بېښن صورتحال نه د به حد پرېشان شوی وُو دَ روايتونو او اسطوری قيصو په باعث يهوديان دا دعوه کوی - چې هغوی دَ مېنځنی ختيځ دَ علاقې وسيدونکی دی - او ددې ځاېنه نه دنيا مختلفو علاقو ته دَ مجبوريه دکبله تللی وُو او آباد شوی دي -

کله چې فلسطين باندې دَ ترک بادشاهانو عملداری ختمه شوه - او انګريز پرې مسلط شو نو په يورپ يهوديانو کښې يو عام تحريک پيدا شو - چې دَ اسوګنې دپاره فلسطين ته لاړشي دَ يهودو شتمنې کورنۍ ډلې ډلې فلسطين ته راغلے - او دَ مقامی خلکو نه ئې زمکې په بيه واخيستې - او خپلې آبادۍ ئې وکړې - هغه زمانه کښې فلسطين کښې عرب کروندګری آباد وُو دَ هغوی زمکې چې په ګرانه بيه خرڅيدلې - نو دَ خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائيدل - دَ عظيم جنګ په دوران کښې په يهوديانو يو بل عذاب هم نازل شوے وُ - دَ نازی جرمنی هټلر پرې دَ جبر او تشدد قيامت راکوز کړے وُ - دَ هغې په نتيجه کښې فلسطين ته دَ يهوديانو بهير رامات شو - او په شمير کښې ئې ډېره اضافه وشوه - دَ عظيم جنګ دَ ختميدو نه پس دَ فلسطين په مرکزی ځايونو کښې دَ يهوديانو آبادی دَ مقامی خلکو نه سيوا شوې وه -

عظيم جنګ کښې دَ کټې باوجود دَ انګريز استعمار دَ م ختلے وُ - نور قوت په کښې پاتې نه وُ - چې خپل مفتوحه ملکونه مقبوضه وساتی - او دَ هغې دَ سرحدونو حفاظت وکړي - دَ خپلې کمزورۍ دَ کبله ئې ګنو ملکونو له آزادی ورکړه -

دَ کال ۱۹۴۷ء دَ نومبر مياشت کښې متحده قامونو فيصله وکړه - چې دَ برتانوی فلسطين نه دوه ملکونه جوړ کړي - دَ مرکزی علاقو نه چرته کښې چې دَ يهوديانو اکثريت آباد شوے دے - صيهونی فلسطين جوړ کړي - په کال ۱۹۴۸ء کښې دَ جولائی مياشتې په څوارلسمه نيټه دَ اسرائيل په هغه سرحدونو کښې دننه چې دَ متحده قامونو ټاکلی وُو - يهوديانو خپل مملکت جوړ کړو - او دَ تل ابيب نه ئې دارالخلافه جوړه کړه -

1508



هغوی په خپل آئین کښې ولیکل —
څوک چې د یهودی نسل سره تعلق لري. هغه
به د اسرائیل استوګن ګڼلے شی. بایدچې هغه د
دنیا په هر یو ملک کښې وسیږي. هغه به اسرائیل
کښې د میشته کیدو حق لري. هغه وخت سوویت
یونین او نورو سوشلسټو ملکونو اسرائیل
تسلیم کړو. لیکن عربی ملکونو د اسرائیل د
وجود نه انکار وکړو. هغوی دا دعوه کوله
چې د کومو علاقو نه اسرائیل جوړ کړے شوے
دے. دغه ټوله عربي خاوره ده. دغلته کښې
دې عرب حکومت جوړ کړے شی.

باقیمانده فلسطین چرته کښې چې
عرب په اکثریت کښې وُو. او د فلسطین جوړیدو
امکان یې درلودهٔ. هلته کښې د یې تنظیمه اسانا نه
ګواره وه. هغوی خپل حکومت جوړ نه کړے شو.
او ګاونډی عرب حکمرانانو په دغه علاقه باندې
قبضه وکړو. مثلاً کال ۱۹۵۰ء کښې مصر د
غزې پټه ونیوله. شام د ګولان غرونه په خپل
قبضه کښې واخیستل. اردن د اردن سین په
غربي غاړه د فلسطین په ټوله علاقه باندې
قبضه وکړه. چې د یروشلم څوانی ښار یې کښې
آباد وُو. د هغه ټولو حکمرانانو دا خیال وُو. چې
هغوی د فلسطین د خاورې د تقسیم مسئله
په خپلو کښې د افهام او تفهیم په ذریعه حل کړه. لیکن
کوم فلسطینی عرب چې په دغو علاقو کښې آباد وُو
هغوی. کوم خوا ته لاړ شی؟ اسرائیلی حکومت په
اسرائیل کښې دننه د باقیماندو فلسطینی عربو
نه د استوګنې حق وترو یلو. او په زرګونو عربانو
یې د اسرائیل نه بهرته وشړل. هغې مظلومو
فلسطینیانو په ګاونډی ملکونو کښې خپل سرونه
په سو یری کړل. او هلته کښې د سیاسی پناه ګزینو
په روپ په کیمپونو کښې آباد شول. زیات شمیر

کښې اردن ته لاړل. او هلته کښې هم لکه د سیاسی
پناه ګزینو په کیمپونو کښې دیره شو —
دا د فلسطین د مسئلې د راخ ته کیدو حقیقت وُو
اسرائیل دا دعوه وکړه. چې متحده قامونو د
کال ۱۹۴۸ء په قرارداد کښې یهودیا نو له د وطن
ورکولو اعلان کړے وُو. او س مونږ خپل وطن نیولے
دے. د دے په ضد عربي ملکونه دا دعوه کوی
چې په کومه علاقه اسرائیلی ریاست تشکیل شوے
دے. دا د عربو علاقه ده. فلسطینی مجاهد دې
دغلته کښې آباد کړے شی. او اسرائیلی ریاست
دې ختم کړے شی.

بل طرفته چې د فلسطین خلک بې
وطنه شول. نو هغوی هم د مجبورۍ د کبله دا
سوچ وکړو. چې هغوی له خپل وطن پکار دے.
د وطن جوړولو د پاره یې تنظیمونه جوړ کړل په
کال ۱۹۶۵ء کښې د شپږو تنظیمونو د انضمام
په نتیجه کښې پی - ایل - او وجود بیا مونده و.
او یاسر عرفات یې د سرمشر و ټاکلو- پی - ایل
او په کال ۱۹۴۸ء کښې د متحده قامونو د قرارداد
منلو نه انکار وکړو. هغوی غوښتنه وکړه چې
هغه علاقې چې د کال ۱۹۴۷ء نه وړاندې د انګریز
استعمار په تسلط کښې وے. هغه د فلسطین ملک
وُو. هغه دې بیا متحد کړے شی. او د فلسطین
په نوم دې ترې نه یو آزاد ملک جوړ کړے
شی. په دې کښې هغه علاقې هم په ګوته کړے
شوې. په کومو چې د اسرائیل ادعا شوې وه.
او د هغو علاقو چې فلسطین کښې د ګرځون
غوښتنه هم وکړه. په کومو باندې چې عرب
حکمرانانو په کال ۱۹۵۰ء کښې قبضه کړې وه.
پی. ایل. او د افیصله هم وکړه. چې دوی به
به د اسرائیل نه د فلسطین خاوره د خپل
همت په زور آزاده کړي. خو تر دغه وخت

پوره د سامراجیت سرمشري امریکې ته سپارلې شوې ده. او یهودي شمتن امریکه کښې. چې تورشن عنصر دی. دهغوی له خاطره د امریکې حکومت د اسرائیل د هر ناجائزه اقدام مرسته کول خپل فرض گڼل. او د اسرائیل د مضبوطیا بند، بنا یې وکړه. د سوشلستو ملکونو موقف هم په هاغه وخت کښې په دې حول ... چې اسرائیل یو حقیقت دے. او د حقیقت نه انکار کیدې نه شي. ددې وجود تسلیمول پکار دي. خو دې سره د فلسطینوالو د وطن غوښتنه هم بیخي جائز او د منلو وړ ده. هغوی له دې هم د استوګنې دپاره د فلسطین یوه حیصه ورکړې شي. او په دې باره کښې دې عالمي کانفرنس راوبللے شي.

چې پکښې پي ایل او سب عرب ملکونه، امریکه سوویت یونین شامل وي. امریکې او اسرائیل کانفرنس را غوښتلو. اصولاً مرسته وکړه. لیکن د فلسطین د نمائنده په حیث ئې د پي ایل او منلو نه انکار وکړو. بلکه دا خبره ئې هم وکړه. چې د فلسطینوالو ... بغیر دې تصفیه وکړې شي. د پي ایل او د وجود نه منلو نه پس هغوی په اسرائیل باندې مسلح حملې شروع کړې او د نړیوالو توجه خپل طرف ته کرځولو دپاره یوې فلسطینې پیغلې لیلیٰ خالد دوه طیارې وتښتولې. سامراجي ملکونو دا پروپیګنډه شوره کړه. چې د فلسطین عام اولس د وطن غوښتنه نه کوي. دا خو پي ایل او یو دهشت پسند تنظیم دې. چې په علاقه کښې ګډوډي پیدا کوي. کله چې معامله اوږده شوه. نو اسرائیل په کال ۱۹۶۷ کښې په کوانړی عربي ملکونو حمله وکړه. د شام نه ئې ګولان، اردن نه ئې د سین قبلئیزه غاړه او مصر نه ئې د غزې

پټۍ او د سینا صحرا په زور قابو کړه.

اوس هغه علاقے چې د کال ۱۹۴۷ء نه اخوا ورته فلسطین وئیلے شو. اسرائیل پوره باندې مسلط ؤ. بلکې د مصر نه ئې د سینا صحرا هم په زبردستۍ نیوے وه چرته کښې چې د نړۍ د تېلو چینې دے د اسرائیل دې. ګوزار سره د مصر د سویز نهر په آمدنۍ هم اثر پریوت او کافي کمه شوه. د اسرائیل رقبه د پخوانه څلور دو چنده شوه. اسرائیل اعلان وکړو. چې د نوی سرحدونو د نښان زدګۍ دپاره به د هر یو عرب ملک سره ځان له خبره وکړي لیکن د فلسطینی اولس سره د څه قسم خبره کیدې نه شي د یلے خوا نه عرب ملکونو دا اعلان وکړو. چې هغوی به په غونډه خبره کوي. او د فلسطینوالو نه بغیر خبرو اترو کولو ته تیار نه دی مسئله په ځائې پاتې شوه. د وخت تیریدو سره اسرائیل پخپل موقف کښې بدلون راوستلو او مقبوضه عرب علاقے ئې پخپل ریاست کښې تحلیل کړے او فلسطینوال عرب ئې د زور زیاتۍ نه ددومره تنګ شول چې د وطن نه یې هجرت شوروکړو. او خپلے علاقے یې اسرائیل ته خالی کړے دغسے ناوړه عمل صیهونی دهشت ګر حکومت په اسرائیل کښې پخوا هم د عربو سره کړې ؤ. د ګردې نړۍ یهودیان یې دغلته کښې اباد کړل. او د فلسطینوالو د وطن د حق منلو څخه یې انحراف وکړو. او پخپل دې موقف یې زور واچولو چې فلسطینوال په کوم ملک کښې وسیږی د هاغه ملک اتباع دې وګڼلے شي. د اسرائیل د دې هسې اقداماتو د کبله فلسطینی مهاجرین اردن ته لاړل. او هلته کښې په کیمپونو کښې اباد شول. څو کلو نه پس د اردن سره دا احساس پیدا شو. چې د فلسطینې کډوالو تعداد د مقامي اباده نه زیات شوې دے. او اردن کښې د بادشاهت ختمیدو له خطره جوړې دې شي. د اردن بادشاه فلسطینوال یو ځل بیا د ظلم او تشدد ښکار کړل. او سویلی لبنان ته یې وشړل ۱۹۷۳ء کال کښې اسرائیل بیا په شام، مصر او اردن باندې حمله وکړه عرب ملکونو په ډېره کلکه او ترتوب سره د خپلو علاقو دفاع وکړو. او مصر څو ځو ناڅه علاقے د اسرائیل نه واپس —

واخیستلې. اسرائیل ته معلومه شوه چې اوس مخه په جنګ او بدمعاشۍ نه حل کېږي. اسرائیل او امریکه راضي شول. چې جنیوا کښې د سوویت یونین او عربي ملکونو سره ګډ یو امن کانفرنس وکړي. لیکن دا کانفرنس هم د څو اجلاسونو کولو نه پس ناکام شو. ولې چې امریکې او اسرائیل په کانفرنس کښې پخپل دې موقف زور اچولو چې د سرحدونو د کشالو په حکله به د هر یو عرب ملک سره جدا جدا خبره کولې شي. دا چې مصر یې په خبرو وغولېده او غداري ته اماده شو. او په کال ۱۹۷۷ء کښې یې د اسرائیل سره د کیمپ ډېوډ لوظنامه وکړه. او د ډالې. په شکل کښې یې د اسرائیل نه د سینا صحرائي مصري علاقه واخیستله. د کیمپ ډېوډ لوظنامه چه شوا ېطو کښې دا خبره هم شامله وه. چې د فلسطینوالو د حکومت او غزې د علاقې په باره کښې به مصر او اسرائیل په آینده کښې خبرې اترې وکړي. ګویا عملاً نه صرف مصر په غزه باندې د خپلې دعوې نه لاس واخستو بلکې د فلسطینوالو د جدا وطن فکر ته یې هم په مخه بنه وویل او خپله لمن یې تره دښمنۍ نه د مصر سره د لوظنامې کولو نه پس اسرائیل خپله پوره توجه په لبنان کښې د فلسطین مهاجرینو ته ورګرځوله او د هغوی په قتل عام یې لاس پورې کړو ورو مبېه خو یې د عیسائي ملیشیا په ذریعه څورل. ځپل او تړنول او بیا یې پرې باندې نېغ په نېغه حمله وکړه. لیکن فلسطینوالو او د هغوی د ازادۍ تنظیم پي ایل او چې په کوم دول خپله خپله دفاع وکړله غوندلو لړۍ ورته حیرانه او کوته پړ غاښې شوه. اسرائیل حمله د فلسطینوالو او پي ایل او د تباهۍ او نیست نابود کولو دپاره کړې ده. لیکن بیا یې د یو لوظنامې په ترڅ کښې حمله بنده کړه. چې د هغې مطابق به اسرائیل د لبنان نه خپل پوځونه وباسي او د پي ایل او وسله وال غړي به هم د لبنان نه په ستنه لاړ شي مګر فلسطینوال مهاجرین به په لبنان کښې وسېږي د پي ایل او وسله والو کارکنانو له تیونس پخپله علاقه کښې پناه ورکړه لیکن اسرائیل د لبنان نه خپل ټول پوځ واپس نه کړو. او د سویلي لبنان شل کلومیتره پلنه علاقه نن هم د اسرائیل په قبضه کښې ده. او خپله حفاظتي علاقه ورته وائي. اوس امریکه او اسرائیل د

اردن سره هم د کمپ ډېوډ غوندې لوظنامې کولو باره کوششونه کوي. د اردن باچا حسین هم خوښه کړېده. چې دغسې لوظنامه وکړي او د جنجال نه خپل ځان وباسي لیکن په اردن کښې د زیات شمېر فلسطینوالو مهاجرینو د موجودګۍ د کبله په دغسې هیچرې و نه کړې شي. بلکه چې په سوویت یونین کښې میخائیل ګورباچیف د اقتدار په چوکۍ کېناستو نو په نړۍ کښې د افهام او تفهیم یوه نوې لاره رپوانستې شوه. د ټولو نه لومړنۍ واقعه دا وشوه چې په کال ۱۹۸۷ء کښې د اسرائیل په مقبوضه عرب علاقو کښې فلسطینوالو عربو عام بغاوت وکړو. د دې بغاوت غبرونه چې په یورپ او امریکا کښې د خلکو تر غوږو شول. نو د خپلو حکمرانانو د پوچې پروپیګنډې نه یې اعتماد پاسېده چې د فلسطین عام اولس بیل وطن نه غواړي. دا خو پي ایل او یو دهشت ګرد تنظیم دے. چې د اسرائیل خلاف ایې چا په ماز جنګ شورو کړې دے. د خپلو اولسونو د دباؤ د کبله برتانیه او فرانس غوندې د امریکې اتحادیانو د فلسطینوالو د جدا وطن حق تسلیم کړو. او امریکه هم مجبوره شوه. چې د پي ایل او سره مذاکرات وکړي. د اردن باچا حسین هم د حالاتو رخ ته کتل نو د دې نتیجې ته ورسېده و. چې که هغه د سین قبلیزه غاړه د اسرائیل نه په څه طریقه واپس واخلي. نو حکومت به پرې باندې و نه کړې شي. هله یې د هغې علاقې نه د دستبردارۍ اعلان وکړو. مصر خو عملاً پخوا د غزې ریښمه نه د دستبردارۍ اعلان کړې ؤ. په دې روان کال ۱۹۸۹ء کښې فلسطینوالو د خپل جلا وطن حکومت د قیام اعلان وکړو. او ښاغلي یاسر عرفات یې د حکومت لومړې صدر و ټاکلو د یاسر عرفات حکومت د میخائیل ګورباچوف د حقیقت پسندۍ د اصولو خپلولو د امله د اسرائیل د ژوند حق ومنلو او دا څرګنده و نه یې وکړه. چې هغوی د فلسطین ملک په هغو علاقو جوړول غواړي کوم چې په ۱۹۴۸ء کښې د فلسطین برخه وه او کال ۱۹۵۰ء کښې پرې عرب ملکونو او ۱۹۶۷ء کښې پرې اسرائیل قبضه وکړه. عرب حکمرانان ورو مبېه د دې علاقو له لاس په سر شوي دي. اوس د فلسطینوالو د جدا وطن

باقي صفحه ۳۰

# فضل محمود مخفي

نعیم الله شینخ پېښور

زما مطالعه ډېره محدوده او عنوان مې ډېر وسیع خیر کوشش مې دا دے چې تخیله وسره هغه پټ محونه ښکاره کړم چا چې د ازادۍ په مقدس جنګ د سره دنګلی وو۔ او دا وطن ئې د انګریزي استمار د استماری ښکېلو آزاد کړو۔ نن زهٔ د هغه مجاهد په حقله د لیکلو کوشش کوم۔ د چا نه چې ستر بابا خان عبد الغفار خان ډېر متاثره شوے دے۔ کله چې مونږه د آزادۍ د قهرمانانو ستائنه کول غواړو۔ نو بائد چې د مخفي صاحب نوم دې کښې د ټولو نه مخکښې یاد کړو۔

## لنډ حالات

(۱) ژوند او زده کړه:—. مخفي صاحب د چارسدې د ګلی او سیدونکے وُ۔ په ۱۸۴۸ء کال کښې د چارسدې د پائنده خیلو په کندی کښې د نور محمد خان کره وزیر پیدا په قام ماموند وُ۔ پلار نیکهٔ ئې د دهٔ د پیدائش نه وړاندې د باجوړ نه راغلی وُ۔ مخفي صاحب په ۱۹۱۰ عیسوی کال د چارسدې د مډل سکول نه اتم جماعت پاس کړو۔ د سکول نه چې فارغ شو۔ نو په اسلامیه کالج پېښور کښې ئې داخله واخیستله۔ د خپل یو رشته دار شیر محمد خان چې په هغه وخت کښې د هندوستان په آګره نو مې ښار کښې صدر مدرس وُ۔ د هغه په مشورت ئې د کالج سبق پرېښودو او په دار العلوم اسلامیه کښې ئې په زده کړه پیل وکړو۔ د دغې مدرسې نه چې فارغ شو نو د مولانا محمود الحسن صاحب اسیر مالټا سره شاګرد شو۔ دوسلو بیا د هغوی په تحریک حزب الله کښې شامل شو۔ په دغه وخت کښې ئې د حاجي صاحب ترنګزئي سره تعلق پیدا شو۔

حاجي صاحب د ترنګزو مخفي صاحب د مردان په اسلامي مدرسه کښې مدرس مقرر کړو۔ بیا د ترنګزو حاجي صاحب بېرته لاړو۔ هلته په باجوړ او بیا د مومندو په علاقه لکړو کښې ډېره شو۔ د دې نه وروستو مخفي صاحب د دیر ریاست د سنډ علاقې ته لاړو۔ هلته د خپل د تره ځوئي سره ډېره شو۔ څه موده پس دغلته د "ماننکي" مولوي صاحب په نوم مشهور شو۔ د دغه ځائې نه ئې د انګریزانو خلاف په کلکه مبارزه شروع کړه۔ چه وا واع کښې د مولانا عبید الله سندهي سره خپل ځانی تعلقات نو په وجه د غازي امان الله سره ئې پېژندګلو وشوه۔ او کابل ته لاړو۔ دغلته کښې په "اعتدال پسند" ډله کښې شامل شو۔ د استقلال په روضه کلیزه مخفي صاحب یوه اللہ بیهه تقریر وکړو۔ د مخفي صاحب د خبرو نه پس په افغانستان کښې د شوروي اتحاد سفیر ووئیل۔ که په دنیا کښې د مخفي صاحب غوندې نور کسان پیدا شي نو ټوله دنیا به د غلامۍ نه خلاصه شي۔ د دې خبرو په وجه مخفي صاحب نور هم مشهور شو۔

مخفي صاحب څهٔ موده په کابل کښې پاتې شو۔ او د ور ځیا نبې "انیس" د محرر په توګه ئې کار کړے۔ په ۱۹۳۴ء کښې مخفي صاحب د انګریزانو له خوا دوه کال نظر بند شو۔ د خلاصیدو نه پس بیا اتمانزو ته لاړو۔ او هلته د اتمانزو په آزاد سکول کښې مدرس شو۔ د دې نه پس د دیر نواب دیرته اوغوښتو۔ او هلته ئې په یو سکول کښې هیډ ماسټر مقرر کړو۔ د پښتو ژبې دغه لوی سیاسي او مبارز شخصیت د ۱۹۴۷ء

د مئی د میاشتې په ۲۸ نېټه د ۹۳ کالو په عمر کښې وفات شو - روح دې ئې ښاد وی - آمین.

## (۲) د انګریزی استعمار پر ضد مبارزه!

فخر افغان مخفی صاحب د خپل عمر ډیر کلونه د باچاخان سره او بل بیا او ډیړه د انګریزانو خلاف په جهاد کښې تیر کړی دی - د پښتنو د یووالی او پیوستون دپاره ئې منظم کوشش او مبارزه کړې ده - په پښتنو کښې ئې د وطن دوستئ جذبه پیدا کړې ده - د مخفی صاحب د مبارزو په حقله بابائے امن باچاخان په خپل کتاب " زما ژوند او جد و جهد " کښې داسې لیکی -

" کله چې زما سوسایټی بدله شوه - او د قام پرستئ سره ئې ناسته پاسته شوه - نو بیا ماکښې چې د قام پرستئ کومه جذبه وه - هغه راویښه شوه - دا خبره چې ما په وړوکوالی کښې د طالب العلمئ په زمانه کښې محسوسه کړې وه - د مخفی صاحب، مولوی عبدالعزیز صیب او مهتمم صیب په مجلسونو کښې ئې نوره وده اوکړه - خصوصًا د مخفی صاحب د مجلس په ما ډیر اثر اوشو" باچاخان په خپل کتاب کښې د مخفی صاحب د شخصیت او د انګریزانو په ضد د هغه د مبارزو په حقله ډیرې خبرې کړې دی - ان تردې چې هغه د خپل کتاب " زما ژوند او جد و جهد " په سر کښې داسې لیکی؛

" قاعده ده چې څوک کتاب اولیکی - نو د چا په نامه ئې منسوب کوی - د مخفی صیب دا نظم " زما د ژوند فکر عمل او جد و جهد " رښتینې منکره ده - نو ځکه زه غواړم چې دا خپل کتاب " زما ژوند او جد و جهد " تاسو ته ددې نظم د پاکیزه جذبې سره وړاندې کړم.

هغه

خاوندانو تاسو وړاندې کړي!
زموږ د یووالی حجره
یو ځای په کښې دی ناست کړی

د پښتنو دلـه جوړه کړه!
یوزړه یو ساه یو شانه کړې!
دې بیل او بیل پښتون لـره.

---

کله چې د پښتون د مبارزو تاریخ لیکلی شي - نو د پښتنو د آزادئ د تاریخ سره د مخفی صیب نوم داسې تړلے شوے دے - چې بېلول ئې ډیر ګران کار دے - مخفی صیب د پښتنو د آزادئ او بیدارئ دپاره داسې کارکړے دے - چې پښتانه به پرې فخر کوی - او پښتون اولس به پرې نازیږی - او د هغه د مبارزو ستائنه به کوی - دا ځکه چې هغه د پښتنو د سیاسی شعور د لوړولو دپاره همیشه جد و جهد کړے دے - آزاد سکولونه او مدرسې ئې جوړې کړې دی - کلی په کلی او چم په چم د پښتنو د حق غوښتلو او د پښتنو د آزادئ دپاره ګرځېدلے دے..

دلته به ډیر په لنډو الفاظو د هغو مدرسو او سکولونو نومونه واخلو کوم چې مخفی صاحب جوړې کړې وے - هغه وخت چې مخفی صیب په کوم کلی کښې اوسېدو - نو څلور مدرسې ئې په دیر، خال، کوټو او باجوړ کښې جوړې کړې - په دغو مدرسو کښې به د پښتنو د مبارزو او د پښتون اولس د یووالی او د انګریز انو خلاف د میړانې درس ورکیده - چې د پښتنو مبارزو په تاریخ کښې د دغه دول سکولونو او مدرسو جوړول ډیر اهمیت لری - په همدغه انادو سکولونو او مدرسو کښې چې خپله مخفی صیب استاد ؤ - د پښتو ژبې داسې داسې مبارزین لیکوال او شاعران لکه غنی خان، ماسټر عبد الکریم، عبد الاکبر اکبر، فضل رحیم ساقی، ولی محمد طوفان او یو لس کوټو نور را پورته شول - او داسې کارنامې ئې اوکړې - چې د پښتنو تاریخ به پرې رنګین ښکاری - د دغو سکولونو او مدرسو په جوړولو کښې د مخفی صیب حصه ډیره زیاته ده - مخفی صیب د باجوړ د سالارزو په علاقه کښې هم یوه آزاده مدرسه

فاشه کړه چې پرکښې شپېښتنه هلکان داخل شو

او د سیاسي مهاجر پېښولځو ابه ورته درس ورکول کېده.
چې د یو ښه نتیجه ئې وبلسوده.

## (۳) ـ د مخفي صیب شاعري.

څنګه چې د پښتنو په مبارزو او جد وجهد کښې د مخفي صیب نوم ډېر ځلنده ښکاري. دا رنګه د پښتو په شاعرۍ او د پښتو په فرهنګ کښې د مخفي صیب نوم هم ډېر روښانه ښکاري. مخفي صیب د خپلې مبارزې سره سره ګرمه شاعري هم کړې ده. د هغهٔ شاعري هم لکه د هغهٔ د مبارزو یو ستر ارمان لري. د هغهٔ په ټوله شاعرۍ کښې د پښتنو د وحدت او د انګریزي استعمار خلاف د ازادۍ او مبارزې یو خاص رنګ دے.

د هغه شاعري د هغهٔ د اولس او د وطن د خوارۍ کښو د مړانې او مبارزې ارمان دے.

مخفي صیب په خپله شاعرۍ کښې د پښتون حق غواړي. او د پښتنو د ترقۍ یا متمه دار دے.
هغه په خپله شاعرۍ کښې د اټول زړې زړې پښتانه د یو والي طرف ته رابلي. او په خپله شاعرانه ژبه ورته مخاطب دے.

ــــــ

کشمیر نه تر هرات چورې
بلوچستان نه تر دورې
د اټول پښتون دے هر چیرې
خهٔ رنګي پروت ذرې ذرې!
د یو وجود په شان یې کړئ.
یاخدایه دا ذره ذره!

---

٭ مخفي صاحب د پښتون او د پښتون قامي مبارزې
خلاف چې څوک په زړونو کښې کینه او بغض لري. د
هغهٔ د نابودېدو ارمان لري. د خپل قامي دښمن کور
ورانول غواړي او خپله لطیفه ژبه کښې ورته داسې

ګويان دے

ــــــ

لویو تپو د پښتنو!
په غره په سم پرتو دړنو!
افسوس د لویو پرګنو!
راځئ چې یو شو لېونو!
یالویه خدایه ورانه کړې
سپېرهٔ بېلتون لره دېره

---

مخفي صیب چې څهٔ رنګه د پښتنو په مبارزو کښې انقلاب رواستے دے او په رومې ځل د پښتو په شعر کښې د ګل او بلبل د زلفو او سنبل، د ټیک او پېزوان په ځائے د پښتنو د مبارزو او مېړانې بیان کړے دے

د مخفي صیب د شاعرۍ په باره کښې باچاخان لیکي.

"مخفي صیب د چارسدې یو انقلابي شاعر ؤ. د پښتنو په شاعرۍ کښې یې انقلاب راوستو. د زلفو او کاکل، د خواو خال، د ګل او بلبل په عوض یې د قام غریب او بېچاره ته د خپلې شاعرۍ مخه اوکړځوله. زهٔ ده ته د پښتو شکسپیئر وائم. ده دهٔ په پښتنو ډېر حق دے". د مخفي صیب د شاعرۍ د پاره ددې نه لوې سند زما په خیال نېشته.

د مخفي صیب په شاعرۍ او د هغه په ژوند ډېرې خبرې کیدے شي. دا اوس د پښتو ژبې د لیکوالو او عالمانو کار دے. چې د هغهٔ د ژوند پېټه ارخونه پښتون اولس ته راڅرګند کړي. ځکه چې د هغه په پښتو ډېر حق دے. یا ئې چې د پښتو ژبې لیکوال او عالمان دا رنګه ملي خدمتګار په باره ملا اوتړي. د خپل لیک په پائے کښې د دغه ملي مبارز یو څو شعرونه ستاسو په وړاندې کوم. او اجازت اخلم.

پاتې: صفحه ۳۰

# دَ غټو مجرمانو ډائري

يو قيدي

## يادګيرنه

دغه واقعه زما د جيل د ډائرۍ يوه برخه ده - چې د لاهور کلي سرانداز بابا ماته د هغې واقعې نه پس کړې وه - کومه چې انګريز سپرنټنډنټ مسټر يانګ زمونږ دا حاطې د کېلې ګل سپه خپله ښپنت زره زره کړو - او دا يې وويل دغو مجرمانو ته د ګل د کتو اجازت نشته : (مير مهدی شاه مهدی)

نن د دسمبر ۱۹۶۱ء اتلسم[۱۸] تاريخ وو - نن زمونږ د سحر پروګرام بدل غوښتې لېږ شو ځکه چې نن سحر د موسم په لحاظ زمونږ د پاره بالکل نوے وو - د بارک بندېده نه پس هم مونږ دا زړه ورتيا نشوه کولې چې ور مو لوې کړې وے - ځکه چې بهر داسې سيلۍ وه چې صرف غرونه ورته ټينګ وو - د غرونو نه هم د غې سيلۍ غټ غټ ګټان را ارغړول هلته هسې هم واړه مارغان نه وو - ليکن لوئ مارغان هم چرته پټ په خُټو کښې ناست وو - يخنې دومره زياته وه چې د شپې مونږ د يخنۍ نه سم خوب نه وو کړے مونږ ته پروون يوه يوه کمبل بله راکړې شوې وه - يوه کمبل به مو سرته بالښت کړې وه يوه به مو په کډې غوړولې وه او دوه به مو اغوستې - د ما نځر د ناوخته کېدو په وجه به ځا ځا بهرتا وتو - په ټول جيل کښې د بارکونو دوه دوه ورونه وی يو د عامو جيلونو غوندې د اُسپنې وی او بل د خاص قسم لرګی يا اُسپنې وی - مونږ چې د ور په لرې کولو کوشش وکړو نو په اسانه لرے کېدو ځکه چې اخوا ورته سيلۍ اوږه ورکړې وه اخر په څوکسانو مو ور لرې کړو - بهر د سيلۍ د وجې نه سخت دوندو او تر د بمبو پورې د رسېدو د پاره هر چا داسې زور لګولے وو لکه چې کا ډې را کاږی - او کوم وخت چې مونږ بمبو ته ورسېدو نو لاندې په فرش را نتوې شوې او بيا واوره شوې وه د نتو نتو خولو باندې هم واوره وه د نتو نتو مو واوره لرے کړه او بيا خو ښې ترمې وې ليکن کوم سړی چې به په څخ او بيا واچولې او سيلۍ به ورله څخ ووهلو نو بيا به يې ورله څخ شلولے وو - د يو دوو دربو کسانو د داسې حال نه پس بيا نورو قيدیانو به سيلۍ ته شاه کړې وه په ټول جيل کښې دا د بولاد سيلۍ درې ورځې شپې

وه کارخانې بندې وي -

مونږ چې د مونځ او چايو نه فارغ شو نو ما خپل قلم او کاغذ راواخستو او د سر انداز بابا کډې له راغلم هغه هم پوه وو د بارک د دېوال نه يې ډډه وهلې وه زه چې کېناستم نو نورکسان هم راغلل سر انداز بابا خپل خان قصې ته تيار شو

مونږ ته خپل مشر باچاخان د سر درياب په مرکز کښې د خپل وروبې قېد په دوران کښې د هغه وخت د جيل خانې حالت بيانولو - دغه ډېره اوږده قصه ده - خونن درته داخبره کوم چې باچاخان ولې داسې غټ مجرم وو - دا ځکه چې هغه په پښتنو کښې ورورولي اتفاق مينه محبت پېدا کولو اول يې مدرسې جوړولې بيا يې د اصلاح الافاغنه په نامه جرګه جوړه کړه - چې هغوی به مشاعرې دراڼې کولې او د پېرنګيانو ظلمونه او زورونه د پښتنو د هغه وخت سپيره ژوند به يې ښکاره کولو - باچاخان د پېرنګيانو نه ملک او وطن ازادولو چې په خپل ازاد وطن کښې هرڅه زمونږ خپل وي مونږ د انسانانو په قطار شو مونږ تعليم او هنر پېدا شي زمونږ علاج او استوګنه د انسانانو شي - په قانون کښې انصاف وي - د غټو نوابانو او خانانو د زور ظلم نه خلاص شو - دغه هغه غټ جرمونه وو چې باچاخان او د هغه ملګری پرې مجرمان وو او د بدماشانو مفرورانو بد کردارو خلقو به د فعو کښې به يې نيول -

نن هم مونږ د ځنګلي قانون (مارشل لاء) لرې کولو کوشش کړی يو يونټ مات وه - د آزادۍ کوم مقصد چې د هغه حاصل وو ځکه نن غټ مجرمان يو - د خپل وطن نه ديارلس سوه ميله بهر نه زمونږ په ضعيف ځان حيدرآباد جيل کښې دے څه ملګري به سکهر ملتان او مياں والی جيلونو کښې قېد دی - او دا زمونږ جرم داسې جرم دے چې ما خدای سره وعده کړېده چې زما به تر ژونده تر خپل مقصد حاصلولو د پاره دغه جرم کوم مجرم به يم او مجرم به مرم -

سر انداز بابا خپل دا خبرې مونږ ته آخری وکړې ما د هغه ژوند نور حالات هم وليکل او ترې راپاسېدم -

## عُذرات

د پښتون په نهمه ګڼه کښې په اوومه صفحه کال ۱۹۶۴ په غلطۍ ۱۹۲۴ ليکلے شوې دی په لسمه ګڼه کښې په ديارلسمه صفحه چاپ مضمون سره نوم عبدالمنان نه بلکه عبدالمناف لوستل پکار دی -

هم دغه ګڼه کښې په صفحه ۲۶ چاپ شوې اقتباس سره چاپ نوم عبدالرؤف مجذوب نه بلکه عبدالرحيم مجذوب لوستل پکار دی - د کتابت د دغو غلطو د پاره مونږ د خپلو لوستونکو نه بخښنه غواړو

(اداره)

# خبرې اوخبرې

خبرهدا ده چې ځې ځې نوا بازوله په راځي . که سرې ډېره هم دخبروکولو نه ډډه وکړي او دخبرو روژه وساتي مګر چې کورې وینې چې ناشونې لیکېږي . دې چپ نشي پاتې کېدے . ماچې خبرولوستو نوذهین خان ته مې وکتل هغه هم په اخبار ورپریوتې وو څه دلچسپ خبرونو ته سترګو شوې وو . ما اول دهغه سترګو او بیا دسترګو په مرید اخبار کښې لیکلې خبر باندې سترګو ورښخې کړې . نوخپله خبره راته هیره شوه ، تول خیال مې د ذهین خان دسترګولاندې خبرې ته لاړو -

چوک یادګار نړوی ؛ زما دخلې نه ناساپه اوختل -

"هو" ذهین خان خبرلوستوکښې ډوبېدو باوجود زما دسوال ځواب وکړو

ولې ؟ ما ترې اخبار راکښلو .

د ولې ، ځواب خوجنګ وی . جنګ کولې شې ! ذهین خان اخبار ما ته رادیکه کړو بیائې دنوی سره جوړه وی ؛ ذهین خان د اخبار رادیکه کولو سره د سترګونه چشمې کوزې کړې - یعنې ! د پیپلز ورک پروګرام چې دے . ذهین خان هم وپه خبره شخوند اونه وهلو .

نو بیا ښهرخو اباد دې ورانې ویجاړې خو پکښې ډیرې وی . نوکارونه دی وکړي لارې کوڅې . جماعتونه . مدرسې هسپتالونه لړ کارونه دی څه ؟ ماورله نورې ورکړه ؛ ذهین خان لږ بیرغوندې شو .

مګر په دغو خبرو نو خود یادګارې د نوم تختې نشی لګیدی . دچوک یادګار دعمارت دپاسه خوبه دبنیاد کښېخودونکی دنامې تختې هم لړی . اوس داتختې به دچا دنامې وی دا فیصله به هاؤسنګ منسټر داول نه کړې وی . ماورله بیا بله نورې خله کښې ورکړه

زماخبرې ذهین خان ورک غوندې کړو لکه چې ماضی پسې تلې وی . هغه دسواګې کټې کوتې نه پټ وویستولاندې نې شونډه چې په غابنونوکښې ونیوه اوسترګې ورانې ورانې کړې اولکه چې څه خبره ورته رایاده شوې وی . سربې وخوزولو او بیائې داقبال دا مصرعه وویله

"جونقش کہن تم کونظر آئے مٹا دو"

او ما داسې محسوس کړه لکه چې چوک یادګار غریب هم یو "نقش کہن" وی . اګرچې چوک یادګار د "نقش کہن" په ځای ځوکښونه کیږی چې تیر یو حکومت جوړ کړی وو . او دا یادګار هم دهغې حکومت د "نقش انګریزی" دورانولو په بانه ورن کړی وو او دهغې په ځائې دا د "ضرب میسن تحریک" نخښه ودرولی وه ـ

طالبه دوه سوده به وکړې

هم به خیر واخلې هم به خپل کړې ثوابونه

موجوده حکومت د نقش کہن وسیع المعانی لفظ کثیر المقاصد حاصلاتو دپاره پکاروی . ما ذهین خان ته دابل خبر په ګوته کړو . دا دمردان داولسی

ادبي ټولنې قرارداد وو-چې داباسين ارټ کونسل د موجوده پينل په قطعه وو. ذهين خان اخبار زماله ګوتو راکښلو او ورته زيرېشو خبرلوستونه پس بې ما ته داسې وکتل لکه چې رابانديې ملامت وېلو ته خله جوړوي .ما بې زر په خله لاس کښېښودو.

اوګما دخان سره وډيل چې خبره خو دملامت وېلوده خو يواځې په ما نه، د پېښور په ټولو پښتو دانشورانو. اديبانو شاعرانو او که خفه کيږي نه نو په سياسي او سوشل ورکرانو هم چې ددوی د پوزې لاندې داسې کارونه کيږي او دوی ترې ځانونه خبروي نه. په خله خو پښتو پښتوکوي. دپښتون له غمه مري .پښتونخواه کښې هم وظيفه کړې وه او په ثقافتي مرکز اباسين ارټ کونسل ترې نه هندکوزبې خلقو قبضه وکړه.

*تفو بر تو اے چرخ ګردان تفو*

ذهين خان زه له اوږې ونيولم او وې خوزولم .''څه سوچ يوړې''

اوزه لکه چې دخوبه راپيدار شوې وم . ما ناساپه ورته ''هن'' وکړه

هسې سوچ وړې يم ذهين خانه پښتونخواه کښې کل يل ۳ فيصد ی هندکو ويونکي دي دوی لګيا دي د ۹۷ فيصد پښتنو استحصال کوي . په ريډيو دوی قبضه ده په ټيلی وژن کښې دوی ناست دي . او اوس بې لا داباسين ارټ کونسل نه هم پښې راټولې کړې .خلق عرب ژاړي چې لکونو بنی اسرائيلو دکروړونو عربو پوزه کښې مهار اچولي ده -او پښتنو ته نه ګورې چې په خپل وطن کښې ور بانديې څوک نه ناسته ده دم ترې نه ښي وهلی شي

ستړې شوې جوړګه اوبه ډېرې شوې
چې په ګودر څغه بانډار نشته

پښتو وايه ! پښتو لوله ! پښتو ليکه !

څومره ښه خبره ده ولې عمل به پرې څنګه کيږي. پدې پوه نشوم . پښتو ليکل او لوستل څو لاکړانه خبره ده. نن دور کښې هغه ماشوم چې بريوه او موسر پلار ئې مهذب ګڼلې کيږي. چې ماشوم په انګرېزۍ کښې خوخبرې اوکړي . رښتيا خبره خو داده. چې انګرېزان لاپه خوغلامۍ ئې لا تر ننه شته..

د عامو خلقو به څه وايم. يو څيزم ترنظره تېر شو. او دا څو ټکی ليکلو ته ئې مجبور کړم.

د پښتو د ايم. اے امتحان روان دے. د پښتو نوم اوريدو سره د سړي ذهن ته هم دا راځي . چې هرڅه به په پښتو وي . خو د سړي په تن اوره لګيږي - څه وخت چې دا او ئے او وينې.

د پهلا پرچه'' دوسرا پرچه'' تيسرا پرچه'' او داسې نور . څکه چې په پښتو کښې ګني خپل ټکی د شميرد پاره نشته

دا ډراک پرېږدئ د وقت چار ګهنټے'' به نن ولی محمد طوفان صيب په قبر کښې هم په آرام نه پرېږدي. څکه چې هغه خو ورته څکښې په جار جار وئيلی وو. چې

د پښتو وايه! پښتو لوله ! پښتو ليکه !

کوم وخت چې سپرنټ صيب په اُردو کښې خبرے کوی. نو کوم سړے به دا اووائی. چې ګني زه د پښتو د ايم اے په امتحان کښې ناست يم شاعر څه ښکلی او زړه راښکونکي وينا کړے ده

''د پښتو جنازه اوځی او ږه ورکړئ''

او ما پرېږدئ. چې اخته بدے په ډېريم.

ته شرمېږے نه چې خان ته آزاد وائې
اے پښتونه د غېر ډبه کښې اسير يې

18

## پاتې : فضل محمود مخفي

ه

چې د زړه درد دې راکوؤ اوس يې دوارا کښه
غم راکوے - دَ غم دَ پاسه زغم زمارا کښه

---

په ما امید ده بدنصیبه شپه پیدا شوه زړه
دَ عمر ګډ پورې د دې تورې شپې سبا راکښه

---

چې نېس له مرګه راولے زما دَ عمر سبا
سبا له نه په ماده سخته نن ته دا راکښه

---

په لوی رحمت کښې دَ رحمان مخفي څهٔ نشته کمے
جفا رقیب کوی . امان له دې جفا راکښه

## پاتې : ترقي پسند

یې ورسره ختمه کړه .- او زهٔ خو وایم چې
د غه تحريك هم د عوامی نیشنل پارټۍ
کامیابي وه ځکه چې خپله د مرکزي اسمبلۍ
ممبران شو او عدم اعتماد کښې ورسره څلور
د پاسه سل کسان شامل شو . خو صرف
داوه چې د غو کسانو لکه چې دا قسم خوړلے
وی چې دوئ به ورځې ته شپه او شپې
ته ورځ وائي . ----

---

کله شپو ورځو تاله دا موقع هم د کړې
ده . چې په دې خبره سوچ وکړې . چې ته
څوک ئے . ولې پیدا شوے ئے څهٔ د پاره
ژوند تېروے . څهٔ کوے او تاله څه کول
پکار دی . یا ته څهٔ کولے شې ؟

## پاتې : فلسطين

جو پېښو په لاره کښې صرف اسرائیل خنډ دے او د استعمره علاقه نه پرېږدی . لیکن عالمی رایې عامه او په مقبوضه مستعمره علاقه کښې اوچت شوې دوه کلن پښتوانې بغاوت په اسرائیل باندې دا زور اچوی . چې دَ حقیقت پسندی نه کار واخلی سویت یونین ، عرب ملکونه . مصر او پی ایل او دَ مسئلې حل کولو د پاره په یوه داسې نړیواله غونډه رابللو زور اچوی چې دَ څد پښتو کلونو دا پښتوانی مسئله حل کړی .- او دَ فلسطین رنځیدلی خلک پخپله خاوره دَ خپل اختیار مالکان شی .

## پاتې : باچاخان

د موجوده پالیسی سره اتفاق وی . یعنې د تشدد لاره یې خوښه وی . او د قوم فائده په دې کښې ګڼی . نو بېشکه د کانګریس کار دې کوی . او که څوک د دې سره متفق نه وی یعنې په عدم تشدد یې عقیده وی . او دَ قوم فائده په دې کښې ګڼی . نو هغه دې صرف خدائی خدمتګار پاتې شی . او د کانګرس د ممبرۍ نه دې استعفٰی ورکړی

مګر یاد لرئ چې زمونږ او دَ کانګریس مقصد یو دے یعنې د ملک آزادول او د ملک نه غربت لرې کول .

ستاسو وړور
"عبدالغفار"

## پاتې : نوې زړه

پرې نهٔ خودلو . لیونے لالیونے شو . وَیل - نائیکه . چا
چرته شه پرې . او دَ یا قربان سره تېر شو .
پرون دې دور دَ د نړې         و و
نن په ږ نده کښې دې جهنده تالې وهینه

# دَکل کنار

باچاجی! سلام مې قبول کړه:-

د رحمان بابا خبره چې! ؎

وهر چاته په خپل شکل ځرګند یږم

آئینې غوندې په رو یا یې دیاسیم

تا په حقیقي معنو کښې د پښتو ادب و تلی نومیالی یې- او د پښتو ژبې او پښتون قوم رښتنی حقداران یې- چې لکه د ستر خوشحال مود افغان په ننګ توره وتړله- او د پښتو ژبې دار تقاله پاره خپلې هلې ځلې کوئ- د ستر خوشحال خبره چې! ؎

د افغان په ننګ مې وتړله توره-

ننګیالے د زمانې خوشحال ختک یم

یاد ستر حمزه دا خبره چې! ؎

وائی اغیار چې د دوزخ ژبه ده

زهٔ به جنت ته د پښتو سره ځم

خوږه باچا جی! مونږ خو یقیناً چې د پښتو د یواد ني خادم په حیث هر وخت ملا تړلے ولاړ یو-

د ګران کامل خبره چې! ؎

د پښتو چې ځوک خدمت کوی په مینه

په دا کارکښې زهٔ له هر چا مشترک یم

ګرانه باچا جی! زهٔ خو دا طمع لرم- چې پښتون قام به ستاسو په هر یو آواز آمین وائی- او خا صکر د پښتو نخواه ادبی تنظیمونوله پکار دی- چې د یو پښتون په جیث د "پښتون" مجله خپله رساله وګڼي- او د دې سره د هر قسمه مالی او قلمی مرستې نه ډډه ونهٔ کړی- زما له اړخه مرتضٰی شاهین صیب- لطیف وهمی صیب- جهانزیب نیاز صیب- او ګران اجمل ختک ته نیکې تمنا ګانې او خوږې پیرزوینې ورسوئ-

والسلام- په درناوی ستاسو-

فضل الرحمٰن صابر- مردان-

ګرانه سید میر مهدی شاه مهدی صاحب!

السلام علیکم!

د سلام نه پس زما د اړخه خان عبد الولی خان او د پښتون ټولو لیکوالو ته د زړهٔ د کومې مبارکی درکوم- او هیله لرم چې پښتانو به د پښتنو په قومی تحریک کښې او د باچاخان په لاره کښې ډیره ښه مرانه وکړی- او د غسې به د باچاخان د تیرو ځو کالو هغه ارمان پوره شی- کوم چې د جابر او سنګدل د پاکستان د واکدارانو دلاسه نیمګړے پاتې شوے وُ- ځه هیله لرم چې د فخر افغان باچاخان روح به په قبر کښې خوشحاله شی- که پښتون پښتانهٔ شی او خپله آزادی او ګټی- چې پښتون قوم هم د دنیا د نورو قومونو په صف کښې په اوچتو سترګو کښینی- بس باچاجی یو ځو خبرې کول غواړم- امید دے- چې خفه کیږې به نهٔ-

اول د باچا خان د قومی تحریک هغه کارنامې کومې چې د هغه منکرو کړی دی- هغه خلقو ته ښکاره کړئ او د دټم د پارتئ په پالیسی خلقوته د وینا اجازت ورکړئ- د وستر مشر خان عبد الولی خان ته به د اصلاح کولو موقع په لاس ورځئ- د دیُم د کراچې د غریبو پښتنو دپاره ځهٔ نه ځهٔ لیک کوئ- ولې چې دلته ډیر زیات پښتانهٔ بے علمه دی- نو هغوی کښې به پوهه راځئ- د علم د کمی له کبله ځهٔ غلطی شوی وی نو بخښنه غواړم-

والسلام

ستاسو کشر حکم خان ګدون

کراچۍ کمره ۳۵۸- بلاک نمبر ۳ ... موسی رودل —— کراچۍ-

WEEKLY PAKHTOON PESHAWAR

## "ضروری اعلان"

# باچاخان پښتون کلیز نمبر

اداره د باچاخان پښتون کلیزه نمبر په داسې دو...
چاپول غواړي چې د باچاخان د شخصیت او
سیاسي ژوند هره لخوا څرګنده شي د هغې سیاسي
قد چې د پښتو نخوا د غرونو نه لوړ او [illegible] روند
دے او د مجلې په ورځ [illegible] کښې یې چاپول هو مشکل کار دے
لیکن اداره د پښتنو قلمکارو، تاریخ پوهانو او قام
پرستو دانشورانو نه دا توقع لري چې د پښتون
باچاخان نمبر د پاره به خپل مضامین او مقالے د کال ۱۹۹۰ء
د جنوري تر پنځمې نېټې پورې د اوونۍ ورځنۍ
پښتون دفتر ته په لاس یا د ډاک په ذریعه راولیږي - پښتنو سوداګرو
کارخانه دارو له پکار دي چې خپل اشتهارونه د چاپ د پاره په وخت
ادارې ته راواستوي

"اداره"

دفتر اوونۍ ورځنۍ پښتون نذر باغ فلیټ پېښور

پرنټر او پبلشر خان عبدالولي خان د مطبع قامي پرنټنګ پرلیس نه چاپ کړ او د نذر باغ فلیټ پېښور